احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

منبع الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه



بسم الله الرحمن الرحيم

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ
عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ
عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ
حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ
وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ.

ترجمه :

او همیشه به وی دوی (یعنی کافران) چی جنګ به کوی دوی له تاسی سره ترهغه پوری چی بیرته وګرځوی دوی تاسی له دینه ستاسی که یی لاس ورسیږی (او موقع و مومی) او هر څوک چی وګرځی له تاسی نه له دینه خپله پس مړشی حال داچی دی کافروی نودغه کسان ضائع شوی دی (تیر) عملونه ددوی په دنیا او اخرت کی او دغه کسان صاحبان داور (دوزخ) دی . همدوی به په دی (اور) کی تل وی .

الجهاد

علمي او جهادي مياشتی خپرونه

مؤسس: الحاج مولوي جلال الدين حقاني

دتأسيس كال: ١٤٠٩ هـ ق / ١٣٦٨ هـ ش

مسوول مدير: عبدالكريم محب

لومړی کال ، شپږم او اوومه گڼه ، جمادی الاول، جمادی الثانی ١٤١٠ هـ ق ، قوس، جدی ١٣٦٨ هـ ش

په دی گڼه کې

شمیر	عنوان	مخ
١	اوسنی مرحلی او زمونږ جهاد	۲ «سرمقاله»
٢	په جهاد کی داسلامی	٤
٣	دستر مجاهد الحاج مولانا حقانی	٦
٤	جهاد ته ضرورت او دهغه	١٦
٥	داسلام دسنگر د دواتلو مجاهدینو	٢٢
٦	قتال فی سبیل الله	٣٢
٧	دعبدالله بن مبارك دحربی پوهنتون	٣٤
٨	جهاد د شعر او ادب	٣٦
٩	دروسانو د تجاوز دغندنی	٤١
١٠	دکمونستانو وحشت او	٤٥
١١	داسلام ددښمنانو یوبل	٤٨
١٢	دجهاد دسنگرونو خبرونه	٥١
١٣	دحق دلاری قربانیان	٥٧

بسم الله الرحمن الرحیم

اوسنۍ مرحله

او زموږ جهاد

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد :

کله چې د روسيي متجاوز قوتونه زموږ په اسلامي خاوره کې دخدای په نصرت دابدي ماتې سره مخامخ شو او متجاوز پوځونه يې بيرته لاړل داسې اټکل کيده چې هغوی به دخپلې ماتې او مغلوبيت نه د تل لپاره دعبرت درس اخيستی وي او نوربه نه پخپله پر کوم هيواد تيري کوي او نه به دخپلو نوکرانو او اجيرانو سره مرسته کوي. خودهغوی د جناياتو اعمال لانور هم تند او چټك شو . اوس په دې وختوکې هغوی زموږ هيواد کې خپلو ملحدو نوکرانو ته دالحاد دحاکم ګرځولو لپاره له پخوانيو مرحلونه زياتي پر مختللي وسلې الوتکي اوليري واټن ويشتونکې توغندي برابر وي. د روسانو قصد اوس ټولی نړۍ ته څرګند دی او ټوله نړۍ پوهيږي چې روس له تعرض نه لاس نه دی اخيستی او يوازې دهغوی دجنايت بڼه بدله شوې. اوس هم دلته هغوی دالحادی پلانونو دکاميابۍ لپاره کارکوي. نو موږ دخپل هيواد د تاريخ په دې مرحله کې هم دهماغو ورځوغوندې اسلامي وظيفه لروچې خپل جهاد ته ددې ملحد رژيم او دهغو روسانو پر ضد چې ددوی جامو او ددوی صفونوکې له موږ سره جنګيږي جاري وساتو او سرعت ورو بخښو . نجيبيان او نور کمونستان د فکر او

عقیدی او دهدف او غایی په لحاظ داسلام او اسلامی عقیدی هماغسی دښمنان دی چی دروس پوځونه او دهغوی نور پیروان زمونږ دښمنان دی دنړی ټولو خلکو واوریدل چی گربچوف د غربی اروپا دهیواد ونود کومکود جلب لپاره په ختیځی اروپا باندی دخپل هیواد دکلونو کلونو دتسلط غند نه او مذمت وکړ خو دلته داسیا د وچی په دی برخوکی ملحد نجیب او رژیم ته یی داسلامی عقیدی او اسلامی فرهنگ د محوکولو په مقصد او دالحاد او کمونیزم دکامیابی لپاره په سوونو زره ټنه رازراز وسلی بمونه توغندی او بم غورځونکی الوتکی برابروی او دهغوی دبقا لپاره دجنگی وسلو پرسونل روزی او پلانونه ورجوړوی. دا هغه مکار روس دی چی مالتها کی د جارج بش سره ددسمبر ددویمی او دریمی نیټی له غونډی نه وروسته ددسمبر په څلورمه نیټه په مسکوکی دوارسا دپکټ دنماینده گانومخکی دخپل هیواد هغه تجاوز وغانده چی پر چکوسلواکیا باندی یی په (۱۹٦۸) ع کال کی دهغوی داصلاحاتو دتقاضا په وجه کړی وخودلته لاهم خپلو ملحد ونوکرانو ته په سوونو زره ټنه زهرناکی وسلی برابر وی. روسی الوتکی لاهم دروسیی دخاوری له هوایی میدانونو نه الوزی او زمونږ دهیواد پرگوټ گوټ باندی بمونه غورځوی مونږ ته ښایی چی دهغوی او دهغوی دجنایتکارو نوکرانو د سیسو چالونو اوفریبونو ته هوښیار واوسو او دتاریخ په دی حساسه مرحله کی دخپلو وظیفو او مسئولیتونو درنښت له پا مه ونه غورځوو. تر هغه وخته پوری چی کمونستی رژیم مو د خدای په نصرت غورځولی نه وی او د روس د تجاوز او دسیسولاسونه مود افغانستان نه لنډ کړی نه وی او اسلامی نظام موپخپل هیواد کی نه وی حاکم کړی د جهاد دسنگر پریښودل یو جرم او جنایت دی. روسان دمختلفو لارونه دنجیب او دنجیب د ړلواود نجیب د باطلی لاری د ملگرو د کامیابی لپاره هڅی روانی کړی مونږ ته ښایی چی د هغوی هرگام ته ځیر واوسو داسی یوه ورځ به خدای راولی چی هماغسی چی هغوی په اروپاکی پخپل جنایت اعتراف وکړاو په هغو جنایاتو یی دخجالتی او ندامت اظهار وکړ په افغانستان کی به هم انشاالله پخپلو جنایاتو اعتراف وکړی.

الحاج مولانا جلال الدین «حقانی»

په جهادکی د اسلام اخلاقو رعایت

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمد الله العلی القدیر و نستعینه ونستغفره ونومن به ونتوکل علیه ونصلی ونسلم علی رسوله الکریم وعلی اله واصحابه واهل بیته واتباعه الی یوم الدین اما بعد :

پس د حمد او صلوة څخه مونږ څه حصه هغه ضروری نصائح او ضروری هدایات چی د سلف صالحینو څخه د خپلو مجاهدینو او قوماندانانو لپاره دستور العمل گرځولی و د منبع الجهاد د مجلی په تیره گڼه کی څه ناڅه توضیح کړل په مخکی مجله کی مودا وعده هم کړی وه چی راتلونکی گڼه کی به انشاءالله دغه ضروری نصائح نورهم تکمیل کړو دادی د وعدی سره سم هغه نصائح وړاندی کیږی .

کان ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه یوصی جیشه عند دخوله فی بلاد العدو بالاخلاقیات التی جاءبها الاسلام وتمیز بها ومن قبیل ذلك مایلی .

دابوبکر صدیق رض طریقه داوه چی ده به خپل پوځ ته په وخت دداخلیدلو کی ښارونو د دښمن کی په هغو اخلاقو باندی چی اسلام پری راتگ کړی او اسلام په هغو اخلاقو له نورو نه ممتاز شوی توصیه کوله .

- عدم التعرض لرجال الدین والمحافظة علی المدنیین وممتلکاتهم وحریتهم الدینیه.

په دینی شخصیتونو تعرض نه کول او د ښاریانو او دهغو دشتمنیو او ددینی حریت - محافظت .

۲ - یحرم الاسلام الغدر بالمعاهدین الا اذا انقضوا العهدفیجب قتالهم .

اسلام له متعهدینو سره خیانت کول حرام گڼی خوکه متعهد خپل تعهد مات کړی بیانو اسلام قتال ورسره

واجب گڼي .

٣ ـ تتسم الحرب بالشريعة الاسلامية بالرحمة والفضيلة والاعمال الحربية لاتبداء الابعد الاعلان واعلام العدو بغدره ونقض عهوده مع المسلمين .

اسلامي جهاد په رحمت او فضيلت ښايسته شوی دی او جنګی عمليات ترهغه وخته نه شروع کيږي څوچې اعلان يی نه وی شوی او دښمن ته د هغوی خيانت اوله مسلمانانو سره دهغوی عهد ماتول اعلام نه شي .

٤ ـ لايحل قتل النساء والأطفال ولاالتمثيل بجثث القتلی اثناء القتال .

په اسلام کی د ښځو او کوچنيانو وژل او په جنګ کی د مقتولينو د جسد مثله کول يعنی دهغوی دپوزې يا غوږ يا شونډو غوڅول روا نه دی .

٥ ـ الاسلام يحمی الشيخ الهرم والذی لايقاتل ولا يشارك برأيه فی القتال .

اسلام د زړو او دهغو خلکو حمايت کوی چی نه جنګ کوی او نه په جنګ کی درأيی ورکولو په وسيله اشتراك کوی .

٦ ـ لايجوز قتل المرئة التی لم تشترك فی القتال مشارکة فعلية ولم تساعد المحاربين.

دهغی ښځی وژل روانه دی چی نه په فعلی او عملی ډول په جنګ کی اشتراك کوی او نه جنګ کونکو سره مرسته او مساعدت کوی .

٧ ـ يحمی الإسلام الا طفال من القتل کماحمی النساء والشيوخ .

اسلام هماغسی چی ښځی او زاړه سړی له وژل کيدلونه ساتی کوچنيان هم له وژل کيدلو نه ساتی

٨ ـ ان الاموال والا رواح والحريات والحقوق مضمونة ولاتستباح الا فی ميدان القتال حيث تدور رحی القتال .

دخلکو مالونه سا او روح ازادی او حقوق مصئون دی او دهغو سلبول د جنګ له ميدان نه پرته جائز نه دی .

٩ ـ عدم اتلاف المزارع والا شجار وعدم هدم البناء لانها من الا موال التی يجب صيانتها الا اذادعت الضرورة اتلافها .

دکښتونو او ونو تلفول او د تعميرونو نړول جائز نه دی ځکه چی دا شيان له هغو مالونو څخه دی چی حفاظت يی واجب دی خو که دهغو د تلفو لو او له منځه وړلو ضرورت وليدل شی بيانو په هغه صورت کی نړول اوله منځه وړل يی جائز دی .

١٠ ـ لايجوز منع الافراد حقوقهم وعلی القائد ان يوصل لکل فرد حقه غيرمنقوص قل أم کثر .

دافرادو منع کول د هغوی له حقوقو څخه جائز نه دی اودا پرقائد لازم دی چی هرفرد ته حق يی که لږوی اوکه ډير وی بی له کوم زيانه ورورسوي .

جهاد مجاهد مينه او وسله يې دسنګر قوت دی .

دځینو مهمو مسایلو په باب

دالحاج مولانا جلال الدین حقاني نظر

موږ کله کله د جهاد په سنگرونو کې د ځینو داسې مسایلو سره مخا مخ کیږو چې د هغو په باب باید د علماو او علمی او جهادی قائدینو علمی تحلیل وغوښتل شي ځکه چې د هغو مسایلو سطحي تحلیل او یا د هغو په باره کې بې تفاوته پاتې کیدل سر بیره پردې چې د واقعیت او اساسی لارې نه د عدول سبب گرځي مجاهدینو او عامو خلکو ته د جهاد په مختلفو سیمو او سنگرونو کې مشکلات هم تخلیقوی . ددې ضرورت له احساس سره د منبع الجهاد خبریال د ځینو مهمو موضوعاتو په باره کې د ستر مجاهد الحاج مولانا حقاني سره یوه مصاحبه کړې چې خپلو محترمو لوستونکو ته یې وړاندې کوو

پوښتنه:

محترم حقانی صاحب! اوس پدې مرحله کې چې زموږ جهاد انشاءالله د کامیابی پړاو ته نژدې شوی د ټولو مجاهدینو له ویناو نه داسې معلومیږي چې دهغوی د جهاد دسیمو خلك غواړي چې د ملحد رژیم له تسلط نه ځانونه وژغوری او په دې مرحله کې له خپلو مجاهدو ورونو سره یوځای شي خو هغوی سره داویره ده چې ممکن ښه رویهٔ ورسره ونه شي د داسې خلکو په باره کې د اسلام حکم څه دی ؟

ځواب:

بسم الله الرحمن الرحیم ، نحمده ونصلی علی رسوله الکریم : دا حقیقت دی چې په افغانستان کې اسلامی جهاد وروسته له یوولسو کالو نه په قدرت الهی سره د کامیابی مرحلی ته نژدې شوېدی او هغه خلك چې د مزدور رژیم د سلطې لاندې دی او پدې یوولسو کالو کې د روسانو له مداخلت او د مزدور رژیم څخه یې قسم قسم اذیتونه لیدلی دی او اوس د روسانو د شکست او په ښارونو کې د مزدور رژیم د محاصره کیدلو نه وروسته چې ټولی عمومی لارې پرې قطع شوی او په داسې حالاتو کې چې د دوی انتقالات او اکمالات په ټپه دریدلی دوی یې دی ته ځیرکړیدی چې دوی باندی داسې یوه ورځ

راتلونکی ده چی د جنگ په وخت کی به د مجاهدینو لاس ته راشی او بیا به په هغسی یو حالت کی مقاتلینو ته د مرگ د حکم سزا اورول کیږی او چی کوم واړه او ښځی او سپین ږیری دی هغوی ته به د غلامی حکم اعلانیږی که دوی دا خوښه کړی چی د هغسی یوی ورځی له راتلو نه دی مخکی د مجاهدینو ورونو سره یو ځای شی او د مزدور رژیم ملاتړ پریږدی او په سو سیالستی او اشتراکیت کفری نظام باندی لعنت اعلان کړی . نو د اسلام حکم پدی باره کی دا دی چی سر او مال او ناموس ئی ټول په امن دی او ټول مسلمانان پدی مکلف دی چی دوی ته دی هیڅ قسم اذیت نه په پټه نه په ظاهر نه په مال او نه په سر ورسوی او مونږ دغه رنگه تعهد په ډیرو منطقو کی ورکړیدی . البته په ځینو منطقو کی ځینی مجاهدین چی د انقلاب په دوران کی د جهاد په سنگرونو کی گډشویدی او د قوماندانی لقب ئی هم تر لاسه کړیدی لیکن د اسلام نه هیڅ خبر نه دی هغوی ځینو خلکو ته چی ورته تسلیم شویدی ناجائز تکلیف وررسولی دی او د اسلام په حکم سم ورسره تللی نه دی نو هغه کم تکلیف بیا د دښمنانو او د ځینو غربی هیوادونو د نشراتی دستگاؤ لخوا ډیر لوی ښودل شویدی او لوی رنگ ورته ورکړشویدی او په مجاهدینو باندی ئی ډیر ډیر تهمتونه او تورونه لگولی دی نو داخلی خلکو ته د پورته ذکر شوی تبلیغاتو څخه تشویش پیدا شوی دی چی ټول مجاهدین هغه رنگه عمل کوی

حال دا چی په سلو مجاهدو کی یو به داسی وی چی په نوم مجاهد وی یا به د مجاهدینو صف کی غل راننوتلی وی یا به د مجاهدینو په صفونو کی د کی - جی - بی ایجنټ ننوتی وی داسی یو عمل به کوی او یا به یو داسی یو جاهل دا رنگه عمل کوی چی داسلام له حکم نه بالکل خبر نه وی نو په سلو کی تقریباً نهه نوی مجاهدین د اسلام د حکم اطاعت کوی او څوك چی د جنگ نه ورتسلیم شی دوی هغوی ته شرعی پناه ورکوی او ددوی د هر څه احترام او عزت ساتی او دوی ته په ټولو تیرو گناهونو باندی عفو کوی .

پوښتنه:

د ځینو سیمو مجاهدینو په خپلو سیمو کی دخپل تسلط دښودلو او د امتیازاتو ددرلودلو په نیت عبوری دروازی (پاټکونه) ایښی چی د عامه خلکو د تیریدلو او یا دهغوی داحتیاجاتو دانتقال په وخت که دهغوی داذیت سبب گرځی پدی باره کی د اسلام حکم څه دی؟

ځواب :

لکه مخکی ځواب کی می چی وویل ځینو مجاهدینو د انقلاب د یوولسو یادولسو کلونو په موده کی دجهاد یاقوماندانی نوم یا لقب ځانته حاصل کړیدی خو اسلامی معلومات ورسره بالکل نشته او داسلامی احکامو او د اسلامی قتال د احکامو نه او د مسلمانانو د حقوقونه .او د الله تعالی په ځینو منطقو کی چی دوی وائی دا ځایو نه مونږ فتح کړیدی او یا ئی د پلار نیکه پخوانی منطقه ده نو په هغو منطقو کی دگمرکی محصول داخیستلو لپاره عبوری دروازی جوړی کړیدی هلته د مسلمانانو د مالونو تلاشی کوی او ددوی نه د محصول په نامه باندی یو څه غلا او غصب کوی او پدی نامه چی مونږ دلته امنیت نیولی دی د رښا ورځی غله جوړ شویدی او د مسلمانانو مالونه سرقه کوی . د اسلام په حکم د گمرکی محصول اخیستل او بی ځایه دخلکو تلاشی کول په مطلق ډول منع دی او هغسی

خلك د قيامت په ورځ كى د سخت عذاب خاوندان
دى . بيا په داسى حالت كى چى مسلمانانو د
ملحد او كفرى رژيم په مقابل كى د دولسو كالو په
مودوكى دلكونو په شمير شهيدان وركړيدى او
دزرگونو په شمير خلك ئى معيوبين گرځيدلى دى او
په مليونونو تنه ئى مهاجر شوى او مسلمانانو
مجاهدينو دعوا كړيده چى مونږ به په منطقه كى
امنيت راوړو او د مسلمانانو مالونه او حقوق به
تامينوؤ او د كافرانو دظلم څخه به دى منطقو ته
نجات وركوو بيا په دغه دعوابرسيره د مسلمانانو نه
په ناروا طريقه محصول اخيستل او د مسلمانانو
مالونه سرقه كول او غصبول يا په يوه منطقه كى
مسلمانانو ته اذيت رسول د شرعى قانون د احكامو
او د مجاهدينو د پورتنى دعوى څخه بالكل مخالفت
دى. داسلام حكم د كومو خلكو لپاره چى الله
تعالى هغوى ته پريوى ځمكى سلطة وركړى په قرآنى
آيت كى د الله تعالى لخوا داسى توضيح شوى دى
(الذين ان مكناهم فى الارض اقاموا الصلوة
واتوالزكوة وامروا بالمعروف وانهوا عن المنكر) الله
تبارك و تعالى فرمائى په ځمكه كى چى زه خلافت
او قدرت چا ته وركړم دهغو عمل به داوى چى دوى
به لمونځونه پخپلو وختو پخپلو شرطونو برابر قائم
كوى او په مال كى ئى چى د خداى حق لازم شى
هغه به په فقيرانو او مستحقينو باندى تقسيم كوى او
مسلمانان به خير او نيكى لارى ته رابولى او د بدو
عملونو څخه ئى اول په لاس منع كوى كه بيا هغسى
تو ان ئى نه درلود نو په ژبى باندى به ئى د بدو
عملونو نه منع كوى او كه هغسى توان ئى هم نه ؤ
نو بيا به ئى په زړه كى بدگڼى او رټى به ئى . او
كه بد عمله خلك ئى په زړه كى هم بد ونه گڼل او
وئى نه رټل او په لاس او ژبى باندى ئى منع هم نه
كړل پداسى سړى كى د ايمان يوه زره هم نشته .
نو په هر حال مطلب دا دى چى دغه دگمركى
محصول اخيستل او بى ځايه تلاشى داسلام د حكم
مطابق ندى او دا د هغو مسلمانانو چى پرځمكى
باندى الله تعالى مسلط كړى او د كفرى رژيم نه
الله تعالى دوى ته نجات او د ځمكى خلافت او
قومندانى وركړى دا طريقه او دا خواص نه دى .
البته كه چيرى داسى لارو كى عبورى دروازى او
تلاشى وى چى له هغو نه ملحد رژيم ته مالونه
ورځى او د ملحد رژيم محاصره ماتوى او دوى ته
كومك وركوى او جنگ ئى طولانى كوى هغه عبورى
دروازه او تلاشى اسلامى عمل دى . پيغمبر صلى الله
عليه وسلم اووه كاله په اهل د مكى معظمى باندى
لاره بنده كړى وه او په ټولو كاروانونو چى مكى
معظمى ته ئى مالونه او تجارتى شيان او كومكونه
وړل لاره تړلى وه او خداى ته ئى سوال كړى و چى
خدايه پاكه د ځمكى لارى خو موستا په نصرت سره
پرى وتړلى ته د آسمان نه بارانونه په دوى باندى
قطع كړى او خدايه قحط پرى باندى راولى (اللهم
اجعل سينيهم كسينى يوسف) خدايه ته په دوى
باندى داسى د قحطى كلونه راولى لكه چى د
يوسف عليه السلام په قوم باندى په مصر كى اووه
كاله د قحطى كلونه راغلى ؤو . په هر حال نو كه
چيرى د ملحد رژيم نه كوم مالونه څوك منع كوى يا
د ملحد رژيم كوم شراب يا هغه مالونه چى له
روسيى نه راوړى او بيا ئى په آزادو منطقو كى
خرڅوى ددى لپاره چى ددوى اقتصاد پرى قوى شى
پانگه ئى زياته شى نو دهغو مالونو منع كول
شرعى جواز لرى او شرعى لاره ده چى لارى ئى
بندى كړى او عبورى دروازى ورته كښيږدى . ددى
نه علاوه نور چى په آزادو سيمو كى د مسلمانانو

مالونه د یوی منطقی نه بلی منطقی ته ځی او
مسلمانان چی هلته نقل او حرکت کوی هغوی ته
دعبوری دروازو ایښودل او دهغو لارو بندول یا
دهغو د محصول په نامه باندی څه اخیستل یا کوم
شی محصول کول او یا نیول ئی ټول حرام ، قطاع
الطریقی او غصب دی او د دوی د جهاد هغه دعوی
چی مونږ به دلته جهاد کوؤ ، تاسو ته امن راوړو او
ستاسو مالونه مصؤن ساتو او ستاسو ځمکی او
ناموسونه به ساتو د هغو ټولو وعدو خلاف عمل دی

پوښتنه :
د ځینو خلکو نظر دا دی چی دګمرکی
محصول یا نورو ناجائزو محصولاتو او
بندیزونو د پاره د دروازو دایښودلو سبب
د مجاهدینو او قوماندانانو د مسئولیت د

نه احساسولو او عبوری اسلامی حکومت
ته د اطاعت د نه لرلو نه نشئت کوی
تاسو دا نظر څنګه ارزیابی کوی آیا
عبوری اسلامی حکومت ددغو اسلامی
احکامو چی تاسو و فرمایل د تنفیذ
لپاره کوم رول لوبولی شی ؟
ځواب :
ماخو مخکی هم دا خبره وکړه چی دا ټول د جهالت
نه کیږی او یا ځینی هغه فاسد عناصر چی د ملحد
رژیم له طرفه لیږل شوی او په مجاهدینو کی ئی
ځانو نه تنظیم کړی او د مجاهدینو نو م ئی په ځان
ایښی او د قوماندانی لقب ئی هم ځانته حاصل کړی
ځو په حقیقت کی د کی . جی . بی خلك دی نو
هغوی د مجاهدینو په منځ کی داسی فعالیتونه کوی
چی مسلمانان د مجاهدینو د حکومت نه او جهاد نه

مجاهد مشر مولانا جلال الدین حقانی او مولانا نظام الدین حقانی د نورو مجاهدینو سره .

متنفر کړی او همدا رنګه دوی د الله تعالی له او امرو نه خبر ندی. د عبوری حکومت په مقابل کی هم مسئولیت نه احساسوی او دافکر نه کوی چی کومو ځایونو کی چی دوی عبوری دروازی جوړوی باید چی د اسلام د حکم سره مطابق عبوری دروازی په مناسبو ځایونو کی جوړکړی نو ددی ځواب په نتیجه کی باید بیا وویل شی څوك چی دا رنګه عبوری دروزای ږدی یا د کی. جی. بی خلك دی چی د مسلمانانو صفونو ته د مسلمانانو د بدنامولو دپاره راغلی او یا خو دجهالت او دخدای د حکم څخه د بی خبری له سببه کوی نو چی د اسلام او د خدای د حکم نه خبر ندی عبوری حکومت ته هم د خپل مسئولیت نه خبر ندی . پدی سبب باندی دوی څنو څنو منطقو کی دغه عملونه کوی او خلکو ته خپله سلطهٔ او قدرت ښیی او ښیی چی په دغه منطقه کی دوی مسلط دی او هر څوك چی هغی منطقی ته ننوزی باید د دوی نه اجازه وغواړی .

پوښتنه: تاسو زمونږ د جهاد د کامیابی لپاره د عبوری حکومت موجودیت په پیښور کی غوره ګڼی او که دا به غوره وی چی افغانستان ته دی ولیږدول شی ؟

ځواب:

مخکی می هم په ځینو مصاحبو کی دا خبره کړیده چی د عبوری حکومت د تشکیل په وخت کی دا شرط کیښودل شوی و چی عبوری حکومت به دیوی میاشتی په ظرف کی به د حکومت ټولی اداری داخل ته نقل کوی او په خارج کی به یوازی نماینده ګی پریږدی او ډیر ځلی ددی خبری مطالبه هم شویده خو د عبوری حکومت مشرانو ته تراوسه پوری خدای پاك دا توفیق ورنکړ چی حکومت داخل ته نقل کړی نو د حکومت اهمیت ئی د خلکو په نظر کی د آسمان نه ځمکی ته راغورځولی . اوس هم پدی باب د ډیرو پوهو خلکو لویو لویو قوماندانانو علماؤ او مخورو مسلمانانو نه دا مطالبه مونږ په تاکید اوریدلی ده چی حکومت دی زر تر زره داخل ته منتقل شی او دحکومت تر سیوری لاندی د اسلام د حکم مطابق د اهل الحل والعقد دانتخاباتو او د پارلمان جوړول دی هم د ننه افغانستان کی وشی او که چیری دغه حکومت دولتی دوایر جوړیږی او د دوی اداره تشکیلیږی هغه دی هم باید په داخل کی جوړشی او هغه مالونه چی اوس د دولتی ادارو په جوړولو باندی په خارج کی مصرفیږی دا هم د جهاد د مالونو بی ځایه ضیاع ده باید مشران تری په جدی توګه او زر تر زره خود داری وکړی او ځانونه تری وژغوری او دا اداری دی د ټول پرسونل سره داخل ته نقل کړی . هغه خلك چی داخل ته ددی ادارو له انتقال نه وروسته نه ځی اداره دی باید له هغوی نه سلب د اعتماد وکړی او معاشونه دی پری قطع کړی بلکی په دفتر کی ئی باید ولیکل شی چی دا سړی د خپل ژوند په ټول تاریخ کی تر آخره پوری د اسلامی حکومت په پرسونل کی د منل کیدلو مستحق نه دی ځکه چی دی غواړی چی د مجاهدینو حکومت بدنام کړی او دغه د جهاد په نوم پیسی په خارج کی په دفترونو او نورو شیانو باندی ولګوی نو اوس هم که چیری کوم حکومت جوړیږی او دمؤقت حکومت پخاطر چی کوم دوایر تشکیلیږی نو د ټولو قوماندانانو بلکی د مطلقو مجاهدینو او د اسلامی افغانی او مجاهد ملت او د مخورو مسلمانانو او لویو علماؤ د ټولو دا تقاضا او دایو پیشنهاد او یو درخواست دی چی مشران دی حکومت زر تر زره داخل ته نقل کړی او د دغه بی ځایو مصارفو مخه دی زر تر زره ونیسی . او ددی حکومت چی تر اوسه

پوری په خارج کی دی اهمیت د خلکو په نظر کی کم شویدی او که آینده کی ددی نه هم زیات په خارج کی پاتی کیږی اهمیت ئی بالکل د خلکو د نظر نه غورځی او دا حکومت حکومت نه بلل کیږی نو زر تر زره باید حکومت داخل ته نقل شی .

پوښتنه: پدی وختونو کی دعبوری حکومت دغږو تنظیمونو د افکارو او تصامیمو په برخه کی ځینی توپیرونه موجود دی مثلا : ځینی په روانو شرایطو کی د انتخاباتو پلویان دی او ځینی په روانو حالاتوکی دا ډول انتخابات مشکل بولی ستاسو نظر پدی باره کی څه دی؟

ځواب:

دا ښه دی چی یو قسم ته انتخابات چی هغه په شریعت برابر وی وشی او د دغه مسلمان ملت یو پارلمان جوړشی چی غړی ئی اهل رایه اهل ایمان او اهل جهاد خلك وی بیا نو قدرت دی د مسلمانانو له طرفه هغو ته امانت وسپارل شی لیکن که داسی انتخابات چی عامو خلکو او ښځو او نرو ته درایو ورکولو حق وی دا رنگه انتخابات یو خو په اسلام کی ناروا دی ځکه چی اکثر خلك د دی امانت دورسپارلو اهل نه دی او دوی اهل رأی ، اهل ایمان او اهل جهاد نه دی او فساق ، فجار او ناپوهه خلك او خائنان پکی ډیر زیات وی نو د عامه انتخاباتو معنا به دا وی چی د اسلام دغه لوی امانت چی امارت دی او الله تعالی په دی باره کی امر کړیدی چی (ان الله یامرکم ان تؤدو االامانات الی اهلها) نا اهله خلکو ته به سپارل کیږی او بل اوسنیو شرایطو کی دافغانی مسلمانانو ټولنه کی عامه انتخابات هیڅ امکان نلری دا په حسب د اسبابو او شرایطو متعذر او محال دی او د مسلمانانو مینځ کی د جگړی او خونریزی یوه لویه وسیله او ذریعه ده او په دی وسیله په دوی کی منافقین او د کی . جی . بی ایجنټان ننوزی چی د دوی په منځ کی تصادم او جگړی پیښ کړی نو دا ډول انتخابات هغو ته د فساد او فتنی یا د خونریزی د یوی دروازی خلاصول دی او داهم معلومه ده چی آیا هغه خلك چی پاکستان کی اوسیږی دهغوی کنترول به د مجاهدو پولیس کوی او که د پاکستان پولیس به دهغوی امنیت ساتی او دهغو خلکو په باره کی هم همدا سوال دی چی په ایران ، امریکا ، سعودی عربستان دخلیج هیوادونو او نورو هیوادونو کی او سیږی او هغه چی په داخل کی د ملحد رژیم تر سلطی لاندی ځمکو کی اوسیږی دهغو د انتخاباتو حق آیا مونږ سلبوو او حق به نه ورکوو او که حق ئی سلبوو نو دا خبره ولی وایو چی په ښارونو کی په زرگونو بی دفاع مسلمانان پراته دی او هغوی د ملحد رژیم او د روسانو د جبر او اکراه محاصره کی پاتی شوی . هغوی هم زمونږ افغانی ورونه او زمونږ د ملت خلك دی او هغوی ته زمونږ له طرفه دهغوی کومی گناه او تقصیر ته دگوتی نیولو مورد نشته او د هغو خلکو چی دناپوهی په وجه د ملحد رژیم ملاتړ کړی که ځمونږ خوا ته راشی او مونږ ورته د رأی ورکولو حق او د سراو مال أمن ورکړو بیا نو دهغوی لپاره به د رای گیری څه طریقه جوړوی آیا هغوی به د داخل د منطقو نه د ملحد رژیم د تسلط د منطقو څخه به راوځی او د باندی به صندوقونو کی خپلی رای اچوی او یا به ددوی دا حق سلب وی او یا به دوی ته په داخل کی د نجیب د اداری لاندی صندوقونه ایښودل کیږی نو په داسی شرایطو کی دامنل چی عامه انتخابات ممکن دی او دا مونږ کوو او غواړو ئی دا داسی یو عمل دی چی

که د هماغو کسانو نه چی هغوی ئی غواړی د دی سوالونو ځواب وغوښتل شی هغوی سره ئی هم ځواب نشته دا صحیح خبره ده چی دانتخاباتو یوه طریقه چی هغه شرعی طریقه هم وی او دا مشکل هم نه راوړی چی داخلی مسلمانان محروم شی یا کوم چی په کمپونو کی دی هغه محروم شی یا چی په بهرنی دنیا غربی دنیا یاپه سعودی عربستان ، خلیج او نورو هیوادونو کی دی هغه محروم شی چی دهغو ټولو حق پکی ثابت شی او دا جنګ او جدل هم پکی رانشی او دفاسقانو او فاجرانو هم زمینه برابره نشی چی دا لوی امانت فاسق او فاجروته وسپاری او هغه فاسقان او فاجران چی د مسلمانانو په صفونو کی د تفرقی او خونریزی د پاره لمن وهی قدرت ورته لاسته ورنشی او یو شرعی او قانونی داهل الحل والعقد د منځ نه او داهل رائ، اهل امانت او اهل جهاد خلکو نه یو پارلمان هم تشکیل شی دا صورت بالکل د مسلمانانو مطلوب دی . د مجاهدینو آرزو ده او د الله تعالی په فضل باندی به دغه شان کیږی.

پوښتنه: کمونستان داسی پروپاګندکوی چی هغوی سره د مجاهدینو د کامیابی د مخذیوی قدرت شته تاسو دیو مجاهد شخصیت په صفت پدی برخه کی څه نظر لری ؟

ځواب:

کمونستانو د انقلاب له ابتدأ نه تراوسه پوری د دغی دعوی نه سوا نوری کومی دعوی چی کړیدی هغه خلاف الحقیقت ثابت شویدی ټول دروغ ثابت شویدی، دوی به مخکی داسی دعوا کوله چی دوی په ټول افغانستان مسلط دی او ټول ملت ددوی سره دی او دوی په هر ځای کی چی داسی دعوا کړی چی په پلانکی ځای او پلانکی ښارکی مواشرار وټکول او دوی مو له مینځه یوړل او محوه او نابود موکړل . په هر وخت کی د مجاهدینو نه د خلکو د ملاتړ په تعداد کی یعنی په دی کی چی څومره خلك د دوی ملاتړ زیات ښیی او داچی څومره خلك مجاهدین دی یا د مجاهدینو پیروان دی ډیر کم ښیی خو د جنګ په صحنو کی چی دوی ذکر کوی چی دومره مجاهدین مو د مینځه یوړل ، هغه تعداد زښته ډیر ښیی او د شهیدان شوو مجاهدینو تعداد د حقیقی تعداد څخه ئی پخپلو پروپاګندو او تبلیغاتو کی څو چنده زیات ښیی خو حقیقت هغسی نه وی نه په هغه ځای کی مجاهدین ځپل شوی وی او نه خو هغو مره مجاهدین په شهادت رسیدلی وی او نه هغو مره مهمات تری لاسته راوړی وی چی هغوی ئی پروپاګند کوی . دوی چی مخکی کومی دعوی کولی چی د مجاهدینو سره امریکائیان دی او د مجاهدینو سره پاکستانیان چینایان او ایرانیان دی د دی ټولو غلطو دعوو غلطی پخپله هغوی هم وښودله ځکه چی خپله د مزدور رژیم د مسئولینو لخوا نه هم دا بیا بیا وویل شوه چی اوس چی دشوروی روسیی قوتونه وتلی دی مجاهدین باید ورور وژنه ونکړی . دوی سره دخپل کفره او سره د دی چی د روسانو غلامی کوی خپل ځانونه د مجاهدینو ورونه بولی اوس دوی وائی چی افغانان دنجیب د رژیم اوپیروانو سره یی جنګیږی نو پدی خبروکی هیچیرته داسی نه دی ویلی چی په جنګ کی مخکی هم امریکائیان ؤ او اوس هم امریکائیان دی او اوس چی روسان ووتل امریکائیان دی هم ووځی . همدا رنګه نړی خو هیڅکله نه خو دامریکایانو او یا پاکستانیانو او چینایانو او ایرانیانو او سعودیانو مداخله منلی او نه یی تائیده کړی نو څرنګه چی دا دکمونستانو لخوا یو تور او تهمت ؤ دنړی لخواهم دی غوښتنی ته

ضرورت نه ؤ چی له چا نه داسی غوښتنه وشی خو ټولو روسانو ته وویل چی له افغانستان نه دی باید ووځی او رؤسانو هم خپلو خپرونو سرمقالو او قطعنامو کی او د روس د پارلمان مرکزی کمیټه کی پدی اقرار وکړ چی مونږ په افغانستان باندی تجاوز کولو کی سهواو غلطی کړی او دهغو پوځیانو سرّمو خیانت کړی چی هلته وژل شویدی او دهغو افغانانو سره مو خیانت کړی چی هلته مو په شهادت رسولی . نو مطلب می داو چی د دوی دغه ادعا چی مونږ د مجاهدینو په مقابل کی د مقاومت توان لرو دواقعیت او حقیقت هماغسی مخالفه ادعاده لکه چی نوری ویناگانی یی مخالفی وی او دا تاسو وینی چی اوس پدی شرایطو کی چی خوست کی دپراشوټ په واسطه مواد راغورځوی په هغه باندی هم قادر ندی بیا نو څنگه به مقاومت وکړای شی او الوتکه هم دخوست په هوایی میدان کی نشی کښیناستلی او که یوه نیمه کښینی هغه هم ولگیږی او تخریب شی بیا نود دوی د مقاومت څنگه امکان موجود دی . په دوی باندی زمینی لاری چی د پاکستان نه به ځینی مواد په قاچاق وړل کیدل هغه لاری هم پری تړل شویدی. د داخل نه هم د دوی اکمالات نشی کیدلای او دوی همدغسی حالت په کندهار ، جلال آباد ، گردیز ، هرات او نورو ځایونو کی لری او حتی په کابل کی هم همدغسی یوه محاصره کی دی او د سالنگ لاره تقریبا هر وخت پری بنده وی. دوی لرگیو ته محتاج دی ځکه چی د منطقو ټول سرکونه د مجاهدینو په لاس کی دی . لکه څومره چی په نورو موادو کی له مشکلاتو سره مخامخ دی هماغومره دسون د موادو په تهیه کی هم په مشکلاتو کی اخته دی. نو ددوی دا رنگه ادعا چی د مجاهدینو په مقابل کی مقاومت کولای شی کامله غلطه اوبی ځایه ادعاده. مجاهدین د هیواد په هره برخه کی په دوی باندی د محاصری حلقه ورځ په ورځ تنگوی او په ښارونو کی هم د دوی مشکل ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی . دوی چی دا توان نه لری چی لاری آزادی کړی او ډیر مهم عسکری مرکزونه یی پریښودل ځکه چی د ساتلو توان یی نه درلود او حتی د خپلو زخمیانو د نقلولو توان هم نه لری نو دا ادعایی بالکل دروغ دی چی دوی وائی چی د مجاهدو مخنیوی کولای شو. البته د څه معاذیرو او مشکلاتو او د الله تعالی په تقدیر تریو وخته پوری په ځینو ښارونو کی به پاتی شی خو دا خبره بالکل غلطه ده چی دوی به د مجاهدو په مقابل کی مقاومت وکولای شی .

پوښتنه : محترم حقانی صاحب یوه بله پوښتنه هم زه غواړم چی ستاسو نه وکړم مونږ هغه مسلمانان یو چی د روس لوی طاقت مو پخپله خاورکی د خدای په مرحمت د خدای په نصرت مات کړ او هغوی لاړل او هغوی پدی قانع دی چی مونږ دلته مات شو مگر تر اوسه پوری هم پدی کامیاب شوی نه یو چی د خپلو پخوانو سنگرونو نه چی روس موتری وشړل نور زیات پرمختگ وکړو ددی علت څه دی ؟

ځواب:

یو د اسلام نظریه ده یو د جهانیانو د ظاهر بینانو د غربیانو نظریه ده نو د اسلامی نظریی له مخی د کامل نصرت او دټول کفر محوه کیدل او ورکیدل او د خدای د قانون او قرآن د حاکم کیدلو ورځ د الله جل جلاله سره لیکلی ده دی ته نتیجه د عمل ویل کیږی نو نتیجه په هر وخت او هر تاریخ کی که په مقابل کی دښمن قوی وی او که ضعیف وی د الله جل جلاله په تقدیر باندی ده . د هغو په مقابل کی

ولی او د څه وجی نه نه ویل کیږی خدای پاک هر شی په خپل مقدار باندی او پخپل وخت باندی لیکلی دی او په هغه خپل وخت کی کیدونکی دی برسیره پردی مونږ چی گورو په هغو منطقو کی چی غربیان سوالونه کوی یا کافران دعوی کوی چی مجاهدین په مخ نه دی تللی مونږ وایو چی مجاهدین په هغو منطقو کی ډیر مخ ته تللی دی . د خوست په منطقه کی د خوست شرقی او غربی حصو کی مجاهدین سږ کال کی د روسانود وتلو نه وروسته په دوه حصو باندی مسلط شویدی په جنوبی خواکی په دریمه حصه باندی مسلط شویدی دولسوالیو او علاقداریو په سویه د علیشیرو علاقداری د نادر شاه کوټ علاقداری د نادر شاه کوټ (٥٩) غنډ د درگی ولسوالی او د دوی په اصطلاح باندی د ملنگ غنډ او ددوی په اصطلاح باندی د جانداد غنډ او د دوی په اصطلاح باندی ددروازگی قرار گاه د زرمنکی قرارگاه د سپینکی پوستی د درگی په شاوخواکی تقریبا ترڅلوېښتو زیاتی پوستی د علیشیرو تورو اوبو په شاوخواکی او دلکنو مکتب باندی د حکومت لویه قرار گاه له منځه یوړل شوی د هغو سره په شاوخوا باندی ډیری نوری پوستی هم له منځه وړی داټولی کامیابی په دی سږکال کی وروسته د روسانو د وتلو نه مجاهدینو ته په برخه شوی دی . جلال آباد کی د تورخم لویه لاره چی په یوولسو کالوکی بنده شوی نه وه او هغه یوه ترانزیتی لاره وه او نه یوازی دا چی د افغانستان د پاره عامه لاره وه بلکی د جرمنی نه تقریبا تر برما او هندوستان پوری یوه لویه ترانزیتی لاره وه. د افغانستان د یوی دروازی نه چی تورخم دی تربلی دروازی پوری چی د ایران سرحد کی چی د اسلام قلعه بند ردی ټوله لاره خلاصه وه خو سږکال کی د روسانو د تلونه وروسته دا دروازی او لاره بنده شوه

د تورخم او شمشاد نه تر ثمر خیلو او د ثمر خیلو تر قرارگاه پوری فرقه هم پکی د منځه لاړه تقریبا (٥٩) کیلومتره په شرقی جلال آباد کی او همدا رنگه د جلال آباد د جنوب او شمال ټولی منطقی د منځه لاړی. اکثر وخت د جلال آباد او کابل ترمینځ لاره قطع او د مجاهدینو په لاس کی وی . په کندهار گردیز او نورو منطقو کی هم مجاهدینو همدا رنگه پیشرفت کړیدی دښارونو د پاتی کیدلو په باره کی باید وویل شی چی په ښارونو کی ډیر بی دفاع مسلمانان سپین ږیری ښځی او ماشومان دی چی په ښارونو باندی د مجاهدینو د تهاجمی حملو نه به دوی او ددوی مالونه او نور دولتی او ملی شتمنی او دخلکو مالونه او د خلکو د کورونو اثاثات له منځه ځی او د محاصری په شرایطو کی دولتی او ملی شتمنی د خلکو مالونه او سرونه دا ټول محفوظ او یا اکثر محفوظ پاتی کیږی او دښمن د شکست سره مخا مخ کیږی .

دریمهخبره داده چی په ظاهره کی خو داسی اوازی دی چی روسان د افغانستان نه علی الاطلاق وتلی دی خو که چیری د دی خبری په حقیقت سره ځیرنه وکړو او حقیقت ته ځیر شو او پوره معلومات ځانته حاصل کړو نو تقریبا دا خبره په سلو کی له دیرش څخه تر څلوېښتو پوری دروغ ده مزدور رژیم ته د روسانو کومکونه اوس ډیر زیات شوی ډول ډول نوی وسلی له مخکی نه په ډیره زیاته اندازه باندی وررسیږی او هغوی ته د هوایی کومکونو او د نوی لیری ویشتونکی سکډ توغندی او هغوی ته مالی او نور و کمکونو کی زیاتوالی راغلی دی . بله خبره دا ده چی ددوی په سوونو سلاکاران مشاورین متخصصین د سکډ او طیارو او د جنگ دپروگرامونو د جوړولو لپاره په افغانستان کی موجود دی او روسی عسکر هم په دی غلط او تقلبی نوم چی دوی د

گلیم جمع او جوزجانی ملیشی دی دلته په جنگی فعالیت بوخت دی .   ځینی نور روسان هم شته چی فارسی او ازبکی ژبی باندی غږیږی او په داخل کی د ملیشو په شکل په افغانی جامو کی ددی غلط او تقلبی نوم سره چی دوی کی د سیدکیان خلك دی جنگ کوی او د رژیم له خوا داسی ښودل کیږی چی دوی هزاره ګان دی ډیر هغه ازبکان چی د روس د منطقو خلك دی په هغو ځایونو کی پدی نامه پاتی شوی دی چی د روس د بندر نه تر کابله پوری ددی لارو حفاظت کوی او امنیت یی ساتی خو په هر حال د روس وتل په مطلق ډول له افغانستان څخه ندی شوی او تر اوسه پوری ډیر روسان په افغانستان کی پاتی دی او کومکو نه یی رژیم سره د مخکی نه ځو چنده زیات شویدی نو دا خبره داسی نه شی ویل کیدای چی روسان ټول ووتل او بیاهم مجاهدینو په دومره وخت کی ډیر پرمختګ ندی کړی .

دجهاد د سنګر زړور مجاهدین

مولوی عزیز خان د منبع العلوم د مدرسی مدرس

جهاد

د ضرورت او د هغه اهمیت له نظره د قران حدیث او علماو نه

نحمد الله الذی کتب القتال علی المسلمین لتحریر الانسان عن عبادة الا وثان الی عبادة الرحمن والصلوة والسلام علی رسوله الامّی الذی وضع قاعدة الجهاد حتی حرر البلاد والعباد وعلی صحابته الذین توسعوا ادارة الجهاد حتی فتحوا الروم والفرس وبعد !

همدغه یو مسلم او تثبیت شوی حقیقت دی چی اسلام یوازی دین دی چی د حقیقت په تشریع او حقیقت او هدایت باندی ولاړ دی او د کرامت حریت او عزت دین د عدالت راحت او انصاف متکفل او ددعوت تبلیغ او یقظت طریقه او د نجات کامیابی او اصلاح لاره او د صله رحمی ورورولی او شفقت درس او د ترقی ابادی او عمران قانون دی مقصد ټول نیك اعمال ، اخلاق ، احسانات ، قربانی او همدردی داسلام محصول او عالی درسونه دی نو هر کله چی اسلام د انسان دټولو ضروریاتو لپاره که معنوی اوکه مادی وي تضمین او کفالت کړی دی په لاندی بول ټینګوالی او مضبوطیت ، قوت او عمل ته ضرورت لری چی دا په مسلح جهاد او قتال فی سبیل الله ممکن ګرځی . نوځکه الله تعالی دمسلمانانو په جامعه جهاد داسلامی خاوری دتمامیت ، داسلامی عقیدی او اسلامی دعوت د حمایت او دفاع لپاره فرض او ضروری وګرځاوه . داسلام دښمنانو همیشه کوشش کړی چی مسلمانان ختم اوله منځه یوسی ددی واقعیت په باره کی الله تعالی فرمایی (ولایزالون یقاتلونکم حتی یردوکم عن دینکم ان استطاعوا) یعنی داسلام دښمنانو همیشه ستاسو سره جنګ کوی ترهغه وخته پوری چی تاسو له خپل دین څخه واړوی که ددوی وسع او طاقت وی . نو جهاد قتال فی سبیل الله دجامعی دمسلمانانو لپاره یو اجتماعی ضرورت دی ځکه چی اسلام بی له جهاد

قتال فی سبیل الله څخه نشی متصورکیدلی . جهاد واحده وسیله ده چی په برکت سره یی انسانان مسلمانان کولی شی چی خپل حریت ازادی او سیاسی اقتصادی او اجتماعی حقوق وساتی او خپل ډیر مشکلات حل او ظلم فساد او استعمار رفع کړی . ددی ټولو امکان یوازی په مسلح جهاد سره کیدای شی خدای تعالی فرمایی چی (ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لفسدت الارض) یعنی که چیری خدای تعالی مخنیوی دبعضو خلقو په نورو بعضو سره ونه کړی دخدای پاك ځمکه به له فساد څخه ډك شی . ددعوت اسلامی پایگاه دکرامت دینی اساس د حریت انسانی ریښی فقط جهاد فداکاری او دسر قربانی دقوت برابرول او د قتال فی سبیل الله دلیکو ، خطوطو پیا وړی کول دی چی دالله او مسلمانانو دښمنان ظالمان او تجاوز گر پری وشړل شی (واعدّ وا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخیل ترهبون به عـدّو الله وعـدّو کـم) یعنی مسلمانانو برابر کړی دکفارو لپاره هغه شی چی ستاسو توان او طاقت وی چی عبارت دی له قوت یعنی ویشتل په لارد خدای کی او روزنه داسانو چی پری وډار کړی دخدای تعالی دښمنان او ستاسو دښمنان .

نو واجب او لازم دی چی مسلمان همیشه دحق دخدمت او ددین نصرت لپاره ـ دجهاد عسکروی او ددفاع او قتال په فکر کی وی چی انسانان را وباسی له ظلمت نه نورته له ظلم نه عدل ته له جهل نه علم ته (لتکون کلمة الله هی العلیاو کلمة الذین کفروا هی السفلی) یعنی غرض له جهاد او فتح څخه د ملك او امپراطوری پراخوالی اوتو سعه نه ده بلکه د جهاد غرض د خدای پرځمکه د عدالت تحقق او دانسانانو په جامعه کی دامنیت تثبیت دی چی مسلمانان چی دخدای په مره ځمکه کی غالبه شی دوی به لمونځونه کوی زکاتونه به ورکوی عدالت به قایموی محتاجو خلکو ته به خپل حقوق ورکوی او امربالمعروف اشاعة دخیر او نهی له منکره او مقابله د شر او فساد به کوی (الذین ان مکناهم فی الارض اقاموا الصلواة واتوالزکاة وامروابالمعروف ونهوا عن المنکر ولله عاقبة الامور) یعنی هغه کسانوته که چیری مونږ قدرت تمکن په ځمکه کی ورکړو دوی به لمونځو نه قایموی زکاتونه به ورکوی اوامر په نیکو سره کوی او منع به له بدوکارو څخه کوی او انجام د ټولو کارونو خدای پاك لره دی .

امت مسلمه چی په سرکی یی رهبران علماء قوماندانان واقع دی مکلف دی چی ماتحت ټول مجاهدین او متعلقین هغه جهاد او قتال ته سوق او رهبری کړی لکه چی قران امر کوی (وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله) یعنی مړه کړی کفار ددی لپاره چی فساد موجود نشی او دفتنی مخنیوی وشی او ټول دین خاص دالله لپاره وگرځی.(وجاهدوا فی الله حق جهاده) یعنی جهاد قتال وکړی دخدای جل جلاله په دین کی په حق او صحیح جهاد سره. لازم او فرض دی چی دمسلمان جهاد همیش له هر دنیوی غرض نه لکه دغنیمت جمع کول د مالونو او شهرت له پیدا کولو او ځان د تاریخ په صفحوکی له ثبتولو او د عصبیت دمنځ له قوی کولو څخه پاك اولیری وی هر هغه قتال چی داسلام ددین لپاره وی هغه جهاد فی سبیل الله دی هر هغه قتال چی لپاره دنصرت الحق او محوه دباطل وی هغه جهاد فی سبیل الله دی هر هغه قتال چی غرض یی دخدای جل جلاله د قانون تطبیق کول دی په مخلوق دخدای جل جلاله په ځمکه دخدای جل جلاله گی هغه جهاد فی سبیل الله دی هر هغه قتال چی خالی وی له اغراض شخصیه واوله سرکشی په

ځمکه دخدای جل جلاله کی هغه جهاد فی سبیل الله دی (تلك الدار الاخرة نجعلها للذین لا یریدون علوا فی الارض ولا فسادا والعاقبة للمتقین) یعنی همدغه دارد اخرت مونږ ورکوو هغو کسانو ته چی اراده داستکبار او فساد په ځمکه کی نه لری او نتیجه دخیر نیکی دپرهیزګارانو لپاره دی ترڅو چی مسلمانان دخدای جل جلاله په ځمکه ژوند کوی او کافران هم د خدای جل جلاله په ځمکه کی شپی او ورځی تیروی حتما او ضرور به ددوی په منځ کی جنګ حرب او مقابله وی (الجهاد ماض الی یوم القیامه) یعنی جهاد به دقیامت تر ورځی پوری جاري وی (لاتزال طائفة من امتی ظاهرین علی الحق لایضرهم من خالفهم حتی یاتی امر الله) یعنی همیشه به وی یوه طایفه ټولی زما له امت څخه چی په حق به ولاړوی . دوی ته به ضرر نه شی رسولی مخالفین ددوی تر هغه وخته پوری چی امر دخدای جل جلاله چی قیامت دی راشی .

له هغه وخت څخه چی کفر په ځمکه دخدای جل جلاله کی پیدا شوی داسلام سره همیش په مقابله او ښغره مبتلاده ځکه چی داسلام او کفر په مینځ کی نه په خولا کیدونکی تضاد موجود دی اسلام غواړی چی بندګان دی همیشه یوازی دخدای عبادت وکړی بی له الله څخه دبل هیچا او هیڅ عبادت ونه کړی . اسلام غواړی چی انسان دنوروله عبادت نه ازاد او خپل مالك خالق رازق ته دی تسلیم او منقاد وی او کفر غواړی چی انسانان دی همیشه په ظلماتو د شك کفر او عبادت دبتانوکی راګیر او مبتلا وی (اولئك یدعون الی النار والله یدعوا الی الجنه والمغفرة باذنه ویبین ایاته للناس لعلهم یتذکرون) یعنی اهل الشرك بولی خلق هغه عمل او عقیدی ته چی موجب ددوزخ وی او الله تعالی بولی خلق هغه عمل او عقیدی ته چی موجب د جنت او مغفرت وی (الله ولی الذین امنوا یخرجهم من الظلمات الی النور والذین کفروا اولیائهم الطاغوت یخرجونهم من النور الی الظلمات اولئك اصحاب النار هم فیها خالد ون) یعنی الله تعالی دوست دهغو کسانو دی چی مومنان دی دوی باسی دکفر له ظلمت نه داسلام نورته او هغه کسان چی کافران دی دوستان ددوی شیطانان دی . دوی باسی له نور دایمان څخه ظلمت د کفر ته همدغه کسان خاوندان ددوزخ دی او دوی به وی په دوزخ کی همیشه .

اسلام واحد دین دی چی جهاد او حرب یی په همدغسی حدودوکی رواکړی چی بنایی په رحمت عدالت او انصاف دی نو ځکه په مسلمانانو فرض دی په حواله قتال فی سبیل الله څخه چی دوی به کفارو ته په نیکه وجه سره د اسلام دعوت ورکوی که یی قبول نه کړ بیا به په جهاد باندی شروع کوی . رسول الله صلی الله علیه وسلم له هیڅ یوه قوم سره جهاد ندی کړی تر څو چی بلنه یی اسلام ته نه دی ورکړی او خپلو صحابه و قومانداناتو ته یی هم امر کاوه چی یو وار کفارو ته دعوت او د اسلام تبلیغ وکړی که قبول یی نه کړ بیا جهاد ورسره شروع کړی . پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی (اذالقیت عدوك من المشرکین فادعهم الی احدی ثلاث فایتهن اجابوك فاقبل منهم الاسلام اوالجزیة اوالقتال) یعنی چی له کفارو سره مخامخ شی دعوت ورکړی هغوی ته یو له دریو شیانو منلو ته اول اسلام دوهم جزیه دریم قتال . او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو لښکریانو ته د موته په غزوه کی همدغسی وصیت نصیحت کړی و (لاتقتلن امراءة ولاصغیرا ولاکبیرا فانیا ولا تحرقن نخلا ولا تقلعن شجرا ولا تهد موابیتا) یعنی ښځه هلك او بوډا مه وژنی او د کجوروونی مه سوځوی او نوری ونی مه کاږی او کورونه مه ورانوی او همدا رنګه د

مسلمانانو اول خليفه حضرت ابوبکر صديق رضى الله تعالى عنه خپل قوماندان اسامه بن زيد ته وايى چې خيانت ټگى به له کفارو سره نکوى او په جنگ کى به د چا پزه غوږ او نور اندامونه نه پريکوى او بچيان بوډاگان او ښځى به نه وژنى او ميوه دارى ونى به نه سوځوى نه به يى پريکوى . غوايان او نور څاروى به بى ځايه نه حلالوى . خلاصه داده که ځوك د تاريخ په اوږدو کى نظر واچوى هيڅکله به

الله تعالى جل جلاله او په رسول الله صلى الله عليه وسلم او په جهاد فى سبيل الله او ربح او گټه يى مغفرت رضا د خداى جل جلاله ننوتل جنتو د عدن ته دى (يا يهاالذين امنوا هل ادلکم على تجارة تنجيکم من عذاب اليم،تومنون بالله ورسوله وتجاهدون فى سبيل الله باموالکم وانفسکم ذلکم خيرلکم ان کنتم تعلمون، يغفرلکم ذنوبکم ويدخلکم جنات تجرى من تحتها الانهار ومساکن طيبة فى جنات عدن ذلك

هغه مجاهدين چې د اسلام مينه کې د جهاد سنگرونو ته رسيدلي

همدغسى دين پيدا نه کړى چى خپلو پيروانو ته د جنگ په وخت کى همدغه شان ته له رحمت انصاف او عاطفى څخه يك وصيت نصيحت کړى وى د جهاد فضايل او ثوابونه په پوره پيمانه سره نشى متصور کيدلى تر څو چى دهغو نصوصو مطالعه ونکړاى شى چى تعلق تر جهاد پورى لرى حقيقت دادى چى جهاد او قتال فى سبيل الله يوه معامله دبيع دالله تعالى او بندگانو په منځ کى دى چى راس المال يى ايمان په

الفوزالعظيم واخرىٰ تحبونها نصر من الله وفتح قريب) يعنى اى هغو کسانو چى دوى ايمان راوړى دى ايا درته ونښيم داسى تجارت چى نجات درکړى تاسو ته له عذاب دردناك هغه هم دادى چى تاسو ايمان راوړى په الله تعالى جل جلاله او دهغه په رسول او تاسو جهاد کوى په لاره د الله تعالى جل جلاله کى په خپلو مالو او ځانوسره او همدغه غوره تجارت دى تاسو لره که چيرى تاسو علم لرى او الله

تعالی به درته وبخښی ستاسو گناهونه او داخل به مو کړی باغونو ته چی ویالی به روانی وی تر لاندی دونو او داخل به مو کړی پاکو کوټو ته په جنت عدن کی او همدغه لویه کامیابی ده .

مسلمان مجاهد یو عظیم تاجر او بائع تجارت او معامله یی له خدای جل جلاله سره دی الله تعالی مشتری دی له مجاهد څخه دده مال او نفس اخلی په عوض او بدل کی یی نقد جنت به یی نیسی موکد او وعده کړی شوی په تورات انجیل او قران کی ورکوی ایا همدغه شان گټور تجارت به چیرته متصور شی لکه تجارت له الله تعالی سره چی مالك خالق غنی او وفادار پخپله وعده دی (ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم وامو الهم بان لهم الجنه یقاتلون فی سبیل الله فیقتلون ویقتلون وعدا علیه حقا فی التوراة والانجیل والقران ومن اوفی بعهده من الله فاستبشروا ببیعکم الذی بایعتم به وذٰلك هوالفوزالعظیم) یعنی په تحقیق سره الله تعالی اخیستی دی له مومنانو ځانونه ددوی مالونه ددوی په عوض ددی چه دوی لره به جنت وی او صورت دشری دادی چی مسلمانان جهاد کوی په لاره دخدای جل جلاله کی بیا دوی نور وژنی او دوی به هم دشهادت درجی ته رسی همدغه جنت ورکول وعده حقه او ټینگه دالله تعالی جل جلاله ده په تورات انجیل او قران کی او څوك زیات وفادار دی پخپله وعده له خدای جل جلاله څخه او تاسو خوشحاله اوسی په همدغه خپله بیع چی تاسو له خدای جل جلاله سره معامله پری کړی او همدغه لویه کامیابی ده .

جهاد په لاره دخدای جل جلاله کی لوړ مقام او درجی لری حتی چی ترابادی دمسجد الحرام تر تقسیم داب زم زم حجاجو ته هم ډیر فضیلت او ثوابونه لری اگرچی خدای جل جلاله صفت دهغو خلکو کړی چی جوماتونه ابادوی یا دعمران له لاری یا د لمانځو طوافو او عباداتو له لاری (انما یعمر مساجدالله من امن بالله والیوم الاخر واقام الصلواة واتی الزکوة ولم یخش الاالله فعسی اولئك ان یکونوا من المهتد ین) یعنی خبره داده چی ابادوی جوماتونه د خدای جل جلاله هغه څوك چی ایمان په خدای جل جلاله او په ورځ د اخرت لری او لمونځونه قایموی او زکاتونه ورکوی او له هیچانه نه ډارېږی بی له خدای جل جلاله څخه په تحقیق سره چی همدغه خلك لارمیندونکی دی . سره لدینه خداوند ذوالجلال د مجاهدینو او مسجد الحرام دجوړونکی په منځ تساوی او برابرتیا داستفهام انکاری په صورت سلب او منفی کړی او مجاهدین یی کامیاب خاوندان د بشارت په رحمت او رضا د خدای جل جلاله او جنت سره بللی (اجعلتم سقایة الحاج و عمارة المسجد الحرام کمن امن با لله والیوم الاخر وجاهد فی سبیل الله لایستو ن عندالله والله لایهدی القوم الظالمین٭الذین امنوا وهاجروا وجاهدوا فی سبیل الله باموالهم وانفسهم اعظم درجةً عندالله واولئك هم الفائزون یبشرهم ربهم برحمة منه ورضوان وجنات لهم فیها نعیم مقیم خالدین فیها ابداً ان الله عنده اجر عظیم) یعنی تاسو برابروی دزمزم داوبو تقسیم حاجیانو ته او د مسجد الحرام تعمیر له هغه چا سره چی ایمان یی راوړی وی په خدای جل جلاله او په ورځ د اخرت او جهاد یی کړی وی په لاره د الله کی هیڅکله برابر ندی په نزد د الله تعالی جل جلاله او الله تعالی لاره نښیی کفارو ته او هغه کسان چه ایمان یی په خدای جل جلاله راوړی وی او هجرت یی کړی وی او جهاد یی په لاره د الله جل جلاله کی په مالونو او ځانو سره کړی وی همدغه لویه درجه والا دی په نزد د الله تعالی جل جلاله باندی او هغه کسان کامیاب دی او زیری ورکوی دوی ته رب ددوی په رحمت او رضا خپله او دوی لره جنتونه دی چی

وی په جنتونوکی نعمتونه . دایم او همیشه به دوی په همدغه جنتونوکی وی او د الله جل جلاله سره لوی لوی اجرونه دی . اگر چی ملائکو او د علم او پوهی خاوندانو دالله تعالی جل جلاله په وحدانیت باندی چی عظیمه مشهود به او لویه موضوع ده شهادت او گواهی ورکړی او الله تعالی جل جلاله ددوی په شهادت افتخار کوی او پخپل ازلی کتاب کی ددوی شهادت تعدیل او تزکیه یی کړی (شهد الله انه لا اله الاهو والملئکة واولوالعلم قائما بالقسط لا اله الا هوالعزیزالحکیم) خو شهیدان به همدغه لوی شهادت په خپلوپاکو خوشبویه وینو سره د قیامت په هغه لویه دهشت ناکه ورځ کی د ټول عالم په مخکی د خدای جل جلاله په حضورکی ورکوی (ان یمسسکم قرح فقدمس القوم قرح مثله وتلك الایام نداو لهابین الناس ویعلم الله الذین امنوا ویتخذ منکم شهداء والله لایحب الظلمین) یعنی که چیری تاسو ته ای مسلمانانو داحد په مقام کی تکلیف مرگ ژوبله رسیدلی وی قریشو او کفارو ته هم همدغو مره مرگ او ژوبله رسیدلی ده او همدغه ورځی مونږ په مابین د خلکو کی بدلوو او پیژنی الله تعالی جل جلاله مخلص مسلمان په علم تفصیلی سره او تاسو نه شاهدان نیسی او الله تعالی جل جلاله له ظالمانو سره محبت نه کوی . یوه معنی د (ویتخذ منکم شهداء) دا دی چی الله تعالی جل جلاله ستاسو ځکه داحد په جنگ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسولی چی په ورځ د قیامت کی ستاسو وینی د الله جل جلاله په وحدانیت شهادت وواینو شهادت په ورځ د قیامت د وینو له لاری فقط او فقط د شهیدانو منقبت او خاصه ده او څومره فرق عظیم دی په مابین دشهادت داولوالعلم او ملائکو چی په ژبه او عمل سره دی او په مابین د شهادت د شهیدانو چی په وینو سره دی او بله معنی د (ویتخذ منکم شهداء) داده چی تاسو شهادت ورکړی په تبلیغ د رسولانو خپلو امتو ته (ویکون الرسول علیکم شهیدا) دغه هم یو لوی اوله تصور څخه لوړ کرامت دی چی الله جل جلاله له ددوی شهادت په همدومره لویه دعوی کی منظور او مقبول کړ .

الله تعالی جل جلاله د شهیدانو لپاره جنت کی هغسی نعمتونه برابر کړی چی نه د چا سترگو لیدلی او نه چا په غوږو اوریدلی او نه چا ته په زړه ور تصور شوی او په دوی باندی په عالم برزخ کی د حیات کریمه طیبه زیری کړی د دوی د اطمینان او تسکین په خاطر الله تعالی جل جلاله په خپل قرآن کی ضمانت خط او د کفالت وثیقه نازل او تثبیت کړی .

(ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون)

متدین مجاهد چی د اسلام لاره کی دیوی پښی نه محروم شوی .

دا اسلام د سنګر

دروواتلو مجاهدینو سره مرکې

مونږ هڅه کوو چې د منبع الجهاد د مجلې محترمو لوستونکو ته د نورو علمی او جهادی معلوماتو سره یو ځای د جهاد د کلکو سنګرونو د ځینو مجاهدینو په باره کې هم ګټور معلومات وړاندی کړو . دادی په دی ځل کی د هغو مرکو متونه وړاندی کیږی چې زمونږ خبریال د سلمان فارسی د غنډ د ارکان رئیس محترم ډاکټر نصرت الله او د هغه غنډ داوپراسیون او پلان د رئیس محترم جګتورن خیال محمد سره کړی .



دا سلام دلارې متدین مجاهد ډاکټر نصرت الله سره مرکه:

پوښتنه : محترم ډاکټر صاحب! په دی کی خو شك نشته چې مونږ ټولو ته ستا شخصیت ستاسی جهاد او ستاسی د فداکاری احساس معلوم دی خو ددی لپاره چې د منبع الجهاد دمجلی لوستونکو ته هم پوره معلومات ور په برخه شی مونږ ته اجازه راکړی چی

ستاسی د شخصیت او د جهاد په باره کی له تاسو نه ځینی پوښتنی وکړو . زمونږ لومړنی پوښتنه ستاسی د پوره نوم ځای تحصیلاتو او د هجرت د نیتی په باره کی ده .

ځواب : زما نوم نصرت الله دی او د پکتیا ولایت د وزی ولسوالی د شواك علاقداری د ابراهیم خیلو اوسیدونکی یم او خپل تحصیلات می تر دولسم ټولگی پوری د کابل دښار په غازی لیسه کی سر ته رسولی او بیا وروسته له هغه د کابل پوهنتون د طب پوهنځی کی داخل شوم د (۱۳۵۹) هـ ش کال د جدی په میاشت کی می پاکستان ته هجرت وکړ . زه د طب د پوهنځی دریم صنف کی وم چی پوهنځی می د جهاد په نیت پریښود .

پوښتنه : تاسو د څو کالو راهیسی جهاد کوی لطفاً دا هم مونږ ته ووایی چی جهاد مو کوم ځای کی او له چا سره پیل کړی وُ ؟

ځواب : ما د هجرت له لومړی وخت نه یعنی د (۱۳۵۹) کال څخه په مسلح جهاد پیل کړی . ما وسله وال جهاد د پیل څخه دستر مجاهد الحاج مولوی جلال الدین (حقانی) تر قوماندی لاندی د پکتیا ولایت کی شروع کړی او تر همدی وخته پوری د همدغه سترقوماندان تر قوماندی لاندی جهاد کوم .

پوښتنه : لکه چی مونږ خبر یو تاسو له لومړی وخت نه تر اوسه پوری تل د جهاد تودو سنگرونو کی په جهاد مصروف یی مونږ به ډیر خوښ شو که د مجلی لوستونکوته پدی باره کی معلومات راکړی چی د پکتیا په مختلفو برخو باندی د روسانو او د ملحد رژیم د لویو سوقیاتو په مقابل کی مو په کومو جگړو کی برخه اخیستی .

ځواب : لکه څنگه چی می ستاسو د یوی مخکینی پوښتنی په ځواب کی وویل ما په اکثر ډول د پکتیا ولایت کی جهاد کړی په همدغه سلسله کله چی روسی لویه قوا په (۱۳٦٤) هـ ش کال کی خوست کی د ژوری لوری ته د یو لوی تعرض لپاره راغلی وه د هغوی په مقابل کی ما په جهادی عملیاتو کی گډون درلود هغه جنگ کی مجاهدینو ملحد پوځ ته شکست ورکړ خو پوځونو له هغی ماتی نه د عبرت درس وانه خیست نو بیا یی هم په (۱۳٦۵) هـ ش کال کی د خوست پرټولو جبهاتو تعرض وکړ چی د هغه تجاوز په وخت کی هم زه د جنگ میدان کی حاضر وم او د نورو زړورو مجاهدینو سره یو ځای د ملحد دښمن د تجاوز فاسد او له وحشت نه ډك پلان مو ناکام او دښمنان مو ماتی ته مجبور کړل . سربیره پر هغو لویو جگړو ما د ملحدینو په مقابل کی د خوست د شهرنو په ډیر لوی جنگ کی هم گډون درلود له هغو نه می وروسته بیا د سنکیو په لویو جهادی عملیاتو کی هم اشتراك کړی و . ددی ټولو نه علاوه د ملحد رژیم په مقابل کی اته میاشتی د جلال آباد په سنگرونو کی موجود وم .

پوښتنه : محترم ډاکټر صاحب! مونږ وینو چی دملحدینو په مقابل کی په دغه مقدس جهاد کی ستا یوه پښه هم له منځه تللی غواړو لومړی مونږ ته ددی پیښی د وخت او څرنگوالی په باره کی معلومات راکړی او بل لکه چی مونږ وینو تاسی لا هم د جهاد په دغو سنگرونو کی چی زمونږ د هیواد په غرنیو سیمو کی پراته دی او لوړو غرونو او غونډیو ختلو او کوزیدلو

او له یو کاړنه بل ته په تیگلنو ځمکو کی منډ واوتگ راتگ ته ضرورت لری ډیره موثره مثمره او فعاله برخه لری ایا په دی لوړو فعالیتونو کی د ستړیا او یا د ناارامی احساس نه کوی؟

ځواب: ستاسی د پوښتنی د لومړی برخی په ځواب کی باید ووایم چی په (۱۳٦٦) کال کی کله چی روسانو غوښتل چی د سنکیو د مهمو اکمالاتو لاره چی تقریباً نیمایی افغانستان ته په دی لاره اکمالات کیدل بنده کړی نو د سنکیو په غروباندی یی دوی پوستی واچولی او د مجاهدینو دغه مهمی اکمالاتی لاری بندی کړی. مجاهدینو د لاری د پرانستلو لپاره په دوی باندی شدیدی حملی شروع کړلی او د هغو حملو په نتیجه کی د سنکیو پوستی د خدای جل جلاله په نصرت فتح شوی خو وروسته له یوی میاشتی ځخه بیا هم دښمن داپوستی د دویم ځل لپاره ونیولی. مجاهدینو د پوستو د نیولو لپاره یو پلان جوړ کړ او د هغه پلان سره سم هغه پوستی وروسته له دریو ورځو ځخه بیا ونیول شوی. دهمدغی کامیابی د کامیابو عملیاتو په ترڅ کی زما پښه د ملحد او وحشی دښمن یو ماین والوزوله. ستا د پوښتنی ددویمی برخی په ځواب کی باید ووایم چی ماته تر اوسه پوری د خدای په فضل او مرحمت په مقدس جهاد کی زما د پښی د پري کیدلو سره کوم خاص مشکل نه دی پیدا شوی او حتی دا یقین راپیدا شوی چی په دغسی پیښوکی د مسلمان ایمان او د إسلام لپاره د قربانی ورکولو احساس او اسلامی جذبه لانوزه هم زیاتیږی او قوی کیږی. دا هغسی پیښی دی چی د کفر او الحاد سره د مسلمان د مقابلی عقیده او د وطن د نجات او ازادی عزم لانور هم قوی کوی.

پوښتنه: په دغو روانو ورځو کی هم تاسی د ملحد رژیم له اجیرو قواو سره په ورځنی جگړو بوخت یاست که مهربانی وکړی مونږ ته ددی وروستیو وختونو د هغو جبهاتو د جهاد حالت تشریح کړی چی تاسو پکی اشتراك لری؟

ځواب: سږ کال د پسرلی راهیسی مجاهدینو ته د خوست په لویه ولسوالی کی ډیری مهمی فتحی په برخه شوی دی چی په هغو فتوحاتو کی د نادرشاه کوټ فتحه او د درگی فتحه او د خوست شمال خواته د علیشیرو ډیری منطقی فتح شوی. ددی فتوحاتو په نتیجه کی مجاهدینو په دی ځو میاشتو کی وکولای شو چی د ټول خوست تقریباً نیمایی منطقه ازاده کړی. اوس په دی روان وخت کی مجاهدین داپلان لری چی ټولی سیمی چی لاهم د ملحد رژیم د تسلط لاندی پاتی دی د هغوی له تسلط ځخه زر تر زره ازادی کړی اوس مونږ د رژیم د تورغر د وروستیو استحکاماتو او د خوست هوایی میدان لوری ته په کامیاب ډول مخ په وړاندی روان یو. مونږ په دی عزم کی د الله جل جلاله په نصرت پوره یقین او باور لرو او په الهی نصرت باندی د یقین په رڼا کی ډاډه یو چی انشا الله دا منطقی به زر ترزره د مجاهدینو په لاس فتح شی او د خوست لویه ولسوالی به د خدای په نصرت د ملحدینو له منگلو نه ازاده شی.

داعملیات په دی برخه کی د پنځلسو ورځو راهیسی پیل شوی چی په دی پنځلس ورځو کی د دښمن ځلور ټانکونه او دوه د اوبو ټانکرونه مو له منځه وړی او د توری غاړی د پوستی محاصره اوس هم جریان لری. او د ملحد رژیم قوا په هیڅ شان نه شی کولای چی خپلواجیرانو ته د مهماتو او یا غذایی

موادو یا ځینو نورو شیانو اکمالات وکړی او توری غاړی ته یی ورسوی. همدا رنگه د هوایی میدان د درگی او نورو ځایونو په استقامت هم د مجاهدینو دوړاندی تللو عملیات انشا الله په کامیاب ډول مخ په وړاندی روان دی او د الله پاك نه یی کامیابی غواړم.

پوښتنه: محترم ډاکټر صاحب! تاسو ددی روان وخت په عملیاتو کی د کوم ډول مشکلاتو سره هم مخامخ یاست کنه؟

ځواب: اوس په دی وخت کی خو انشا الله د دښمن مورال ډیر ضعیف او د مجاهدینو مورال ډیر لوړ دی او ډیر فتوحات د مجاهدینو له خوا وشو نو ځکه مونږ ته کوم خاص مشکلات نه دی پیدا شوی ځکه چی دا دکفر او الحاد په ضد د اسلامی عقیدی د ساتنی لپاره یو اسلامی جهاد دی او انشا الله مجاهدین د تل لپاره کامیاب دی.

پوښتنه: په دی وروستیو ورځو کی روسانو ملحد رژیم ته ډیر پر مختللی وسلی ورکړی چی هر ځای کی د مجاهدینو د ځپلو لپاره تری کار اخلی له هغو څخه د توغندیو ځینی مدهش اقسام یی دیادونی وړ دی ایا ددی وسلو استعمال د مجاهدینو پر مورال او معنویاتو کومه اغیزه لری؟

ځواب: دا یو واقعیت دی چی روسانو خپلو ملحدو نوکرانو ته اوس په دی وختونو کی د سکډ توغندی او (اوراگان) یا (مگ ۲۹) الوتکی او نوری ډول ډول مهلکی وسلی ورکړی چی ټولی یی هره ورځ په هر ځای او هره سیمه کی د هغوی د ملحدو نوکرانو له خوا د مجاهدینو په ضد استعمالیږی خود خدای په مرحمت د مجاهدینو په عزم، اراده، مورال او معنویاتو باندی هیڅ ډول منفی اغیزه نه شی کولای او حتی د مجاهدینو مورال لانور هم لوړ شوی ځکه چی ملحدینو به د سکډ د توغندیو (مگ ۲۹) الوتکی د تباهونکی توان ډیر سخت پروپاگند کاوه خو کله چی مجاهدینو د هغو تاثیر ولید او په دی پوه شو چی د دښمن هیڅ ډول وسلی ددوی سنگر ماتولی نه شی د ټولو مورال له پخوانه هم زیات لوړ شو او ټولو ته داثابته ده چی دایمان قوت د هر ډول وسلی له اغیزی نه لوړ دی.

پوښتنه: دجهاد په سنگرونو کی د مجاهدینو هره شیبه د هغوی د ژوند له ډیرو خوږو شیبو څخه وی خو بیا هم مونږ به ډیر خوښ شو که مونږ ته د خپل ژوند ددی تاریخی مهمو او ویا ړلو ورځو ځینی خوږی خاطری واوروی.

ځواب: دا رښتیا ده چی د جهاد د ورځو هره ورځ زمونږ د اسلامی تاریخ یو فصل او د اسلامی عقیدی د تحفظ لپاره یو کامیاب عمل دی خو په دی لړ کی زمونږ د ډیرو خوږو خاطرو څخه یوه هم د سنکیو په مورچو باندی د مجاهدینو حمله وه ځکه چی له هغی نه مخکی مجاهدین نا ارامه ښکاریدل او له هغی نه څو میاشتی مخکی د ملحد ینو له خوا د ژوری په سیمی باندی ډیر سخت عملیات پیل شوی وو او د ملحد دښمن هغو عملیاتو د مجاهدینو حواس نارامه کړی و نو کله چی مجاهدینو د سنکیو پرپوستو باندی عملیات پیل کړ. دښمن داسی فکر نه کاوه چی مجاهدین به هومره زر هغه پوسته فتح کړی خود خدای جل جلاله په نصرت هغه ټولی پوستی د شپږو ساعتو په ډیر لنډ وخت کی له منځه یوړل شوی او د ملحدینو ټول استحکامات له منځه لاړل او د هغو پوستو ټول سامانونه مهمات او وسلی د مجاهدینو

لاس ته د غنیمت په ډول راغلی. نو ځکه هغه سکون، هغه ډاډ، هغه بری او هغه خوښی زما د جهاد له ډیرو خوږو خاطرو څخه شمیرل کیږی.

پوښتنه: که د منبع الجهاد د مجلی لوستونکو ته د مقدس جهاد له دی سنگرونو څخه کوم پیغام لری مونږ ته یی ووایی چی مجله کی یی د خپرولو له لاری هغوی ته ورسوو.

ځواب: د مجلی لوستونکو ته زما پیغام دادی چی دوی دی د افغانستان د جهاد خصوصاً د پکتیا ولایت د مجاهدینو لوړی کارنامی د خپل جهاد د لاری سر مشق وگرځوی او د خدای په لاره کی تل قربانی ته چمتو واوسی او همدا رنگه ددی سیمی او د هیواد د نورو مجاهدینو د جهاد د تاریخ خوری پاڼی دی راغونډی کړی او داکارنامی دی د تل لپاره ژوندی وساتی څو د خدای په لاره کی د نړی د ټولو مسلمانانو د جهاد د تشویق سبب وگرځی.

جهاد د مجاهدینو مینه او سنگر ورته له هرځای نه خوږ وی.



د خدای درلودری منلی او نه پرد مجاهد
جګتورن خیال محمد سره مرکه

پوښتنه : محترم جګتورون صاحب !

مونږ غواړو چې د نوری مرکی نه مخکی خپل ځان د منبع الجهاد لوستونکی ته معرفی کړی ؟

ځواب : اعوذ با لله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم . زما نوم خیال محمد دی او د اورګون اوسیدونکی یم . په افغانستان کی وروستی رتبه می جګتورنی وه او د جګتورنی رتبه کی د مرکزی قول اردو د انضباط دټولی قوماندان وم او اوس د جهاد په سنګرونو کی د سلمان فارسی دغنډ د اپراسیون او پلان د امر په صفت وظیفه اجرا کوم .

پوښتنه : تاسو چیرته او تر کوم حده پوری علمی او مسلکی تحصیلات سرته رسولی ؟

ځواب : ما خپل ابتدایی تحصیلات په اورګون کی بشپړ کړ بیا د ثانوی او عالی دوری تحصیلاتو لپاره کابل ته لاړم او کابل کی په حربی ښوونځی کی داخل شوم او هلته می د ثانوی دوری تحصیلات بشپړ کړ وروسته بیا د پوهنځی تحصیلات می په حربی پوهنتون کی سرته ورسوګ او په (۱۳۵۰) ه ش کال کی له هغه پوهنتون نه فارغ شوم او په رسمی کار مقرر شوم .

پوښتنه : جهاد مو څه وخت کوم ځای کی او د چا سره شروع کړ؟

په (۱۳۵۷) ه ش کال کی کله چی د هری
حکومت افغانستان کی د تره کی د توری کودتا په
نتیجه کی قدرت ته ورسید مونږ د هغی نیټی نه یوه
میاشت وروسته د لومړی ځل لپاره په پکتیا کی د
مومنو مسلمانانو د قیام اوله هغو کفارو څخه
دقدرت د بیرته اخیستلو یو اقدام وکړ . هغه اقدام چی
په پکتیا کی وشوه د افغانستان د مسلمانانو لومړنی
قیام و خو متاسفانه چی د ځینو منافقینو په منافقت
زمونږ پلان افشا شو او زه د خپلو نورو ملګرو سره
ونیول شوم او شپږ میاشتی باشتنه قیدکی پاتی شوم له نیده په
هماغه (۱۳۵۷) کال کی خلاص شوم اود هماغه
کال د دلوی په میاشت کی می پاکستان ته هجرت
وکړ . اولنی جهاد می په ارګون کی د مولانا ارسلا
رحمانی سره شروع کړ . وروسته بیا کله چی حرکت
انقلاب اسلامی چی مولانا رحمانی یی غړی و
انشعاب وکړ زه حزب اسلامی ته راغلم او د هغه
وخت نه تر اوسه پوری د الله فضل دی په دغه جهاد
کی بوخت یم .

پوښتنه: تاسو په روانو حالاتو او شرایطو کی د افغانستان د مومنو خلکو جهاد څنګه ارزیابی کوی؟ د ځینو نظر دا دی چی زمونږ جهاد د هغی نتیجی تر لاسه کولو ته نژدی شوی چی مونږ د هغه لپاره خپل جهاد شروع کړی و ستاسو نظر په دی باره کی څه دی ؟

ځواب: په اوسنی حالت کی د افغانستان د مومن
ولس جهاد زه داسی ارزیابی کوم چی د روسانو له
وتلو نه وروسته زمونږ جهاد په ټولو ولایتونو او
ولسوالیو کی تعرضی شکل نیولی کوم وخت کی چی
افغانستان کی روسان وو مونږ د دفاع په حالت کی
وو اوس د الله جل جلاله فضل دی چی د ځینو لویو
ښارونو نه پرته د هیواد د خاوری سلوکی اتیا برخی
د مجاهدینو لاس کی دی خو په دی حالاتو او
شرایطو کی دا شرایط زمونږ نه یوه تقاضا لری د
روسانو په وخت کی زمونږ دفاعی جنګ خصوصی
شکل درلود په اکثرو ځایونو کی به د دښمن
کاروانو نه له منځه وړل کیدل خو اوس مونږ د
محاربی اصلی شکلونو ته ضرورت لرو او د اصلی
شکلو ایجاب دا دی چی باید اپراتیفی غنډونه جوړ
شی تر څو یو شمیر نور مجاهد وروزو د جنګ د
میدان شا کی مجاهدینو ته تخنیك او تاکتیك وروښیی
کوم چی د اصلی محاربی یعنی د تعرض او مدافعی
د پاره ضروری دی او مجاهدین باید د هغو لومړنیو
ضروری ښوونو نه وروسته جبهو ته واستول شی .
په اوسنیو حالاتوکی مجاهدین څکه مخ په وړاندی
روان دی چی دښمن په هره سیمه کی د مدافعی په

یو حالت کی دی او انشا الله چی دوی سره به بیا هیڅکله د تعرض خیال پیدا نه شی .

پوښتنه : په دی روانو وختونو کی د هغو سنگرونو چی ته پکی په جهاد بوخت یی جهاد کوم حالت کی دی او تاسو په څه ډول جهادی عملیاتو مصروف یاست؟

ځواب : زه به د خوست د سنگرونو د هغو فتوحاتو اجمال ذکر کړم چی د یو کال په موده کی ور په برخه شوی .

د پکتیا په ولایت کی خوشبختانه چی د اوو تنظیمونو د مجاهدورونو تر منځ یوه شورا موجوده ده چی ټول قوماندانان او نور مجاهد ورونه د هغی شورا د پریکړی سره سم یو ځای او تریوی واحدی قوماندی لاندی جهاد کوی او د دی یو کال په موده کی مجاهدینو پنځه دیرش (۳۵) پوستی او عسکری لوی او واړه مرکزونه له منځه وړی . په زرمنکیوکی د دښمن یوغنډ له منځه یوړل شو وروسته بیا د جانداد غنډ فتح شو او د دی څلور میاشتو په اوږدو کی درگی او نادر شاه کوټ هم د مجاهدینو له خوا فتح شوی اوس د مجاهدینو د دفاع کمر بند د مندوزیو اسماعیل خیلو خواکی نژدی دی نو د دی یو کال په اوږدوکی دغه پنځه دیرش پوستی ډیری مهمی او کمونست رژیم ته له دی کبله ارزښت درلود چی اکثر یی د رژیم د اکمالاتو پړلارو موقعت درلود هغه ټولی اوس د رژیم له لاسه تللی او د مجاهدینو سنگرونه اړی او مرکزونه دی. دوه ویشت ورځی کیږی چی د تور غر هغه لاره چی له لاندی ځمکی نه ورختلی او دکمونست رژیم لویه او مهمه پوسته او جنگی مرکز دی او رژیم ته ډیر لوی ستراتیژیکی اهمیت لری په رژیم باندی تړل شوی او کومی الوتکی چی مخکی د شپی له خوا ورته کوزیدلی د هغو د کوزیدلو امکان هم اوس نشته دا ټول فتوحات په خوست کی د یو کال په موده کی مجاهدینو ته په برخه شوی چی تاسو او د مجلی ټولو لوستونکو ته د جهاد دلوړی کامیابی په باره کی داطیمنان په ډول څرگند شو .

پوښتنه : د دغو ټولو لوړو بریو په رڼا کی تاسو زمونږ راتلونکی کامیابی څنگه ارزیابی کوی ؟

ځواب : د راتلونکی کامیابی لپاره یو مهم شرط دا دی چی ټول مجاهدین د یوی واحدی قوماندی لاندی د بشپړ اتحاد او اتفاق سره د افغانستان په ټولو ولایتونو کی جهاد وکړی . دا یو ثابت حقیقت دی چی اوس د دښمن مورال د نظامی کمزورتیا له کبله انتهایی ضعف مرحله کی دی او یوازی د

راډیوی خپرونی له لاری په دی هڅه کی دی چی د
نړی خلکو ته داسی وښیی چی دوی د روسانو د
وتلونه وروسته سره د دی چی په محدودو ځایونویی
تسلط پاتی دی مقاومت کولای شی خو چی له نژدی
نه دهغوی حالت وکتل شی ډیر ذلیل او مجبور دی
او هیڅ لاره نه لری په دی مرحله کی یوه واحده
قومانده او د مجاهدینو اتحاد ډیر ضرور دی. که
داسی یوه واحده قومانده موجوده شی د الله جل
جلاله په فضل او مرحمت سره به د ملحدینو د سلطی
ټغر به له ټول هیواد نه یو ډیر لنډ فرصت کی دتل
لپاره ټول شی او ملحدین به دلته په ابدی ماتی
محکوم شی.دی واقعیت خبرونه د ټول هیواد نه مونږ
ټولو ته را رسیږی او د رژیم او نورو هیوادونو د
راډیوگانو خپرونی ی هم . . په ډیر وضاحت څرگند
وی . دا د مجاهدینو د کامیابی ورځی دی او
دښمن د دفاع شکل غوره کړی دی او هیڅ قدرت نه
لری . اوس په خوست کی تور غره ته نژدی مونږ د
دښمن دری ټرك گاډی او دوه زغروال وسایط له
منځه یوړل او د دښمن سره شپږ سوه متره موږ نژدی
یو . دوی هیڅ قدرت اوس نه لری او نه شی کولای
چی د تور غره د پوستی د اکمالاتو لار چی د دوی
سرك دی او زمونږ تر کنترول لاندی دی بیرته
خلاصه کړی . نو ټولو مجاهدو ورونو ته زمونږ دغه
پیغام دی چی کوم اصلی هدف ته چی مونږ د هغه
په خاطر هجرت کړی دی او جهاد موپیل کړی دی له
توان سره ځیر او متوجه شی او د غرب او شرق
دپلانونو ښکار دی نه شی انشاءالله مجاهدینو ته به
ددوی د وحدت په نتیجه کی کامیابی ورپه برخه شی
او خپل مرام ته به ډیر زر ورسیږی .

پوښتنه: که د منبع الجهاد لوستونکو ته کوم پیغام لری مهربانی وکړی ویی وایی چی هغوی ته یی د مجلی په وسیله وروررسووؤ؟

ځواب: مونږ د مجلی ټولو لوستونکو ته اول د زړه
له کومی احترامات وړاندی کوو او بیا دوی دی
واقعیت ته ملتفت کوو چی دافغانستان قهرمان او
مسلمان ولس صرف اوس جهاد نه دی شروع کړی
بلکی په قرنو قرنو کی زمونږ مومنو او مسلمانو
قائدینو او خلکو د کفر په مقابل کی د جهاد سنگر
کی پاتی شوی . کله چی سلطان محمود غزنوی د
سومنات د بت د ماتولو امر وکړ هندوانو د ډیرو
زیاتو پیسو سروزرو او ډیر و قیمتی شیانو پیشکش
ورته وکړ خو د افغانستان هغه مسلمان پا چا دی ته
حاضر نه شو چی د بت فروش په نامه یادشی
بلکی د هغوی ټول پیشنهادونه یی رد کړل او دایی
غوره وگڼله چی د تل لپاره د بت شکن په نامه

یادشی نو د سومنات بت یی مات کړ . همدارنگه

احمد شاه بابا د رسول الله صلی الله علیه وسلم

مبارکه خرقه له بخارا څخه راوړله دا ټول اقدام د

اسلامی جذبی له مخی و نو مونږ چی د هغو

مسلمانانو او مومنو نیکه گانو بچیان یو ټولو وروڼو

ته دا پیغام رسوو چی مونږ صرف په (۱۳۵۷) کال

جهاد نه دی پیل کړی بلکی کلونو کلونو او قرنو نو

قرنونو باندی مونږ د کفارو په مقابل کی په بریالی

توگه جهاد کړی دی نو د ددوی ټولو نه زمونږ دا

هیله ده چی ځوانان او زلمیان وروڼه د هغه اصلی

هدف لپاره چی دوی هجرت کړی دی او جهاد یی

پیل کړی دی او زمونږ د خواږه پیغمبر حضرت

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په لاری باندی تگ

غوره کړی دی باید چی هغه تل خپل نظر کی ولری

ځو خدای جل جلاله زمونږ جهاد او د جهاد عالی

هدف ته مونږ ورسیږو او خدای دی نه کړی زمونږ جهاد ته کوم زیان ورسیږي

او یونیم ملیون شهیدانو وینی بی حاصلی ونه گرځول

شی ټولو وروڼو ته زمونږ دا پیغام دی چی د کوم

هدف د پاره چی هجرت کړی او د هغه لپاره جهاد

کوی او هغه په افغانستان کی د اسلامی حکومت

جوړول دی ځیر اوسی او تر هغه وخته پوری جهاد ته

دوام ورکړی چی افغانستان کی یو اسلامی حکومت

جوړ شی .

x x x x x x x

مجاهدین د جهاد د سنگرونو په ساحه کی .

مولوی محمد شاهان
نبع العلوم د مدرسې ناظم

قتال في سبيل الله

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على رسوله الكريم **امابعد**:

په مکه کی د بعثت نه وروسته دولس کلنه دوره کی چی کوم ظلمونه په مسلمانانو وشو او حتی اخر کی کفارو د رسول الله صلی ا لله علیه وسلم د قتل په نیت د هغوی مبارك کور محاصره کړ د مسلمانانو د پاره ډیری سختی ورځی وی او هغه وخت کی د مسلمانانو او د مکی د کفارو ترمنځ دنښتی امکانات موجود وو خو مسلمانان په هغه وخت کی لا په قتال مامور شوی نه وو او د قتال نه مخکی په هجرت مامور شول نو په مدینه کی الله تعالی په مسلمانانو باندی قتال فرض و گرځاوه. البته دا یو څرگند واقعیت دی چی د جنگ په حالت کی هیڅوك هم د دښمن قافلی ته په خپلو حدودو کی داجازی اخیستلو پرته د راننوتو او سفر کولو اجازه نه ورکوی او بیا خود جگړی حالت کی په دښمن تجارتی بندیزونه لگول او نورولارو څخه د هغه ټکول او د هغی د قوت ختمول د جنگ یوه برخه ده . جنگ د مکی د قریشو له خوا څخه شروع شوی و نو پدی خاطر اخلاقاً او شرعاً د مسلمانانو حق او همدا رنگه پری فرض و . د وی د دښمن د جنگی مخاصمت له کبله دا حق در لود چی په دښمن تجارتی بندیزونه ولگوی او د هغو قافلو ته د اسلامی حکومت په حدودو کی د تیریدو اجازه ورنه کړی همدا علت و چی د هجرت په لومړی کال نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قریشو د قافلو د ټکولو پخاطر د صحابه و یوه ډله ولیږله او پدی ترتیب د جهاد او قتال سلسله پیل شوه . د قتال فی سبیل الله مقصد قرآنکریم پدی ډول بیان کړیدی (د جنگ اجازه ده هغو خلکو ته چی کافر ان ورسره جنگیږی دا په دی خاطر چی په هغوی ظلم شوی او خدای جل جلاله د هغوی په کومك ښه قادر دی دا هغه خلك دی چی ویستل شوی د خپلو کورونو نه په ناروا سره دهغوی جرم پرته له دی چی وایی الله جل جلاله زمونږ رب دی بل هیڅ نه دی او که نه نو خدای به نشت کړی وای خلك یعنی یو د بل پواسطه مسمار کړی به یی

واى خانقاگانى گرجى د يهودو عبادت ځايونه او جو
ماتونه چى په هغى كى د خداى نوم ډير زيات
ياديږى او خداى هغه چا سره كومك كوى چى هغه د
ده د دين سره كومكى وى بى شكه چى خداى د ډ
ير زور او قوت خاوند دى دا هغه خلك دى چى كه
چيرى مونږ ورته حكومت وركړو په ځمكه نو دوى
لمونځونه كوى ذكاتونه وركوى په نيكى حكم كوى
او د بدى څخه خلك منع كوى او د خداى په اختيار
كى دى د هركار انجامول (الحج ٣٩ ـ ٤١ ايتونه ،
١٧ پاره) په ترمذى كى د ابن عباس رضى الله
تعالى عنه څخه روايت دى چى د قتال په هكله د
ټولو تر مخه دا ايات را نازل شوى دى د دى ايتونو
څخه مقصد دا دى چى ظالم له ظلم څخه منع كړى
او داسى حكومت جوړ كړى چى په هغى كى د خداى
د عبادت لپاره آزادى وى د غريبو خلكو اقتصادى
حالت ښه شى او د ښه والى او نيكى احكام نافذ شى
او د بدى ټولى لارى چارى ختمى شى يعنى د ظلم
شرك او د فساد د نظامونو په ځاى د عدل توحيد او
د اصلاح نظام منځته را شى په بل ځاى كى خداى
جل جلاله فرماى چى (وقاتلو هم حتى لا تكون
فتنة و يكون الدين كله لله) ,الانفال ـ ٣٩).
ترجمه : او ددوى سره تر هغه پورى وجنگيږى چى د
كفر او شرك غلبه پاى ته ورسى او دخداى حكم په
ټولو غالب شى .
حافظ ابن كثير (رح) ليكى چى (اى يكون دين
الله هو الظاهر العالى على سائر الاديان (تفسير
ابن كثير رح ص ـ ٤٠٢ البقره ايت ١٩٣) يعنى د
خداى دين په ټولو نورو اديانو غالب او عالى واوسى .
په بخارى او مسلم كى د ابو موسى اشعرى (رض)
څخه روايت دى چى رسول الله صلى الله عليه وسلم
د يو چا د سوال په ځواب كى وفرمايل (من قاتل
لتكون كلمة الله هى العليا فهو فى سبيل الله)
هغه څوك چى ددى په خاطر جنگيږى چى يوازى د
خداى جل جلاله كلمه غالبه اوسى نو په حقيقت كى
همدا سړى د خداى په لاره كى جنگيږى .
خو دجهاد او دخداى د حكم سره سم قتال څخه
مقصد د خلكو مسلمانول د زور په اساس نه دى كه
چيرى داترى مقصد واى نو بيا به په اسلام كى د
جزيى او خراج احكام نه واى . جزيه او خراج په
همدى خاطر اخيستل كيږى چى غير مسلم خلك هم په
اسلامى حكومت كى په خپل مذهب عمل وكولاى شى
حكومت به د هغوى دځان مال او ابرو ساتنه كوى د
هغى اړتيا به پوره كوى او د هغو څخه چى جزيى او
خراج په واسطه كومى پيسى لاسته راځى هغه به د
هغوى د بهبود په خاطر خرڅوى او حقيقت دا دى
چى په زوره سره مسلمان كول ممكن هم ندى دا
ځكه چى ايمان يوازى د اقرار كولو څخه عبارت نه
دى بلكى د سينى د پراخوالى په څنگ كى د تسليم
انقياد او د زړه د تصديق نوم هم دى . د جهاد او
قتال څخه مقصد د كفارو او مشركينو د اقتدار
ختمول او د اسلامى حكومت جوړول دى او كه چيرى
د مخكى څخه جوړشوى وى نو بيا د هغه دفاع او
ټينگښت د جهاد پواسطه كيږى جنگ د غلبى
پخاطر كيږى او د همدى غلبى نوم اقتدار او حكومت
دى .

د عبدالله بن مبارک

د حربی پوهنتون افتتاح

میرانشاه کی د ۱۳٦۸ ﻫ ش کال د قوس د میاشتی په ۱۹ نیټه چی د ۱٤۱۰ ﻫ ق کال د جمادی الاول د میاشتی له لسمی نیټی سره برابره وه د جهاد د یو مهم پوهنتون چی د عبدالله بن مبارك د پوهنتون په نامه یادیږی او د ستر مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی له خوا تاسیس شوی‌د افتتاح په مناسبت یوه غونډه جوړه شوی وه . غونډه د هغی نیټی د سهار په نهه نیمو بجو دقرآن کریم د څو ایتونو له تلاوت سره د پوهنتون د موسس له خوا پیل شوه . د پوهنتون موسس پخپله افتتاحیه وینا کی مجاهد و مهاجرو او انصارو ته هر کلی کی وویل : زه ټولو مجاهدو مهاجرو او انصارو ورونو ته چی دی محفل کی یی ګډون کړی د دوی د سلامتیا ارزو او مسنون سلام وړاندی کوم او ټولو ته سترې مه شی کوم او دوی ته د الله جل جلاله نه غواړم چی دوی د اسلام د دین د خدمت لپاره قهرمانان او په هغو مسلمانانو کی وګرځوی چی الله جل جلاله د نبی علیه الصلوة والسلام د ملګرتیا لپاره او د دین د حمایی او حفاظت او د ضعفا و د نصرت د پاره مقرر کړی دی . او پروردګار عالم‌دی‌د دین په کارونو کی د رهبر او رهنما صلاحیت او استعداد ورکړی .

بیا د غونډی د پروګرام د معرفی نه مخکی د محمد علی له خوا چی د پوهنتون محصل و دقرآن عظیم الشان څو ایتونه تلاوت شول . بیا د عبدالله بن مبارك د حربی پوهنتون قوماندان جګړن عبدالخالق د حربی پوهنتون په باره کی یوه مفصله وینا کی وویل چی د پوهنتون محصلین د کوم خاص تنظیم پوری مربوط نه دی او د عبدالله بن مبارك

الحاج مولانا حقانی دافتتاح غونډه کی دخطابی دوینا دتللو حالت کی .

پوهنتون کی د مجاهد مشر په هدایت هر مومن او متدین افغان چی پوهنتون کی دمنل کیدلو په شرایطو برابر وی د عالی تحصیلاتو لپاره منل کیدلای شی . نو موړی پخپله وینا کی چی په دری ژبه پیل شوه او پای یی په پښتو ژبه وه د پوهنتون په باره کی ډیر لوړ مطالب وړاندی کړل ده د پوهنتون د تشکیل په باره کی دګډور وتوضیحاتو په ترڅ کی وویل چی دی پوهنتون ته دری سوه یوولس تنه محصلین د لومړی امتحان نه وروسته منل شوی چی دوه سوه یوولس تنه یی اوس موجود او سل تنه نوریی لانه دی راغلی ده وویل چی د پوهنتون مهم

عمومی مضامین ویشتنی (انداخت) عسکری قواعد (جمع نظام) خریطه او تاکتیك دی او پوهنتون کی د څلورو مسلکونو لپاره یعنی پیاده ، توپچی زغره وال او ~~هوائی~~ لوژستیک مسلکو نو زده کړو لپاره محصلین داخلیږی جګړن عبدالخالق ستر مشر مولانا حقانی ته اطمینان ورکړ چی د پوهنتون فارغان به تل د مجاهد مشر د توقع سره سم د اسلامی هیواد د ساتنی وظیفه سرته رسوی او له اسلامی اهدافو نه به دفاع کوی .

جګړن عبدالخالق دخپلی وینا په پای کی د پوهنتون له موسس ستر مجاهد مولانا جلال الدین

شهید راه حق

بازشیدای بسوی کوی جانان میرود
بالب پرخندو سیمای درخشان میرود

سرخروی و سرفراز از شوق حق منصور صفت
زین جهان الله گویان شاد و خندان میرود

در ره عشق و وفا و از پی دیدار دوست
جان و دل راترك گفت امروزبی جان میرود

این شهید راه عشق است و شهید راه حق
در ره عشق و حقیقت حق گویان میرود

شیرمردی کونمود کاخ کرملین رااذلیل
سینه دشمن شگافت امروزشاد مان میرود

این جوان صف شکن کو روسان راصف شکست
ترك جان بنمود واز پیش جوانان میرود

امتحان عشق داد و امتحان اعتقاد
کامیاب و مطمئن از جمع یاران میرود

در ره دین خداجان هدیه کردازخود گذشت
تارك دنیا و عیش روز گاران میرود

سنگر ایثار می گرید که از آغوش وی
همدم و همراز و یارجان نثاران میرود

ماند یادش جاودان درنغمه و شعر «محب»
نوربخش و فیض بخش چون شمع تابان میرود

معیوب مح

پښه دی بایلوده ددین دع
پیشقدم شو
وطنوال دی په همت غیر
ارادت اخلاص د
ستاجهاد زمونږ بابونه د
ته به یاد ش
تاخپل سر و نذر کړی د
معتبر وی قصه
لاخوهم دښمن له تاخنی
کرملین ته اور
توریالیه صدقه دی شوه
ستا صفت دی
که اوس پاتی شوی جهان
پروانشته
ستا دعزم ستا دلوړ ه
«دمحب» هر یو کلام ه

شهیدته

دومره خو زیات دی ستا د وینو برکت شهیده
سوپر طاقت دی کړ دنیا ته بی طاقت شهیده
هغه ملحد هغه جابر هغه مغرور پوځونه
ټولی دنیا ته به کتل په حقارت شهیده
د بخارا گمان یی کړی په کابل باندي ؤو
افغانستان یی وګڼلی ملکیت شهیده
دلوي طاقت لقب یی ؤ دنړیوالو مخکی
د فرعونیانویی په سرکی و خصلت شهیده
د اسلامی توري قوت ورته معلوم نه و هیڅ
ځکه یی وکړلو کابل ته دا جرءت شهیده
تایی په سر چه د ایمان توره وچته کړله
ټولی نړي ته یی معلوم شولو قوت شهیده
کومه سلاح باندي چه د وي به افتخار کولو
نن ستا د ورنو لاس ته را غلل غنیمت شهیده
پوځونه یی لاړل ټیټی سترګی د مسکو په لوري
ورته معلوم شو ستا ریښتینی شجاعت شهیده
د بی ایمانو دا انجام وي ایماندارو مخکی
لکه چه کړي دی قرآن دا حکایت شهیده
د دنیا ټولو قوتونو دی
ځنگه به پټ کړي بدر الدین دا حقیقت شهیده

همت منلی

نق په لارکی

ی دایثار په افتخار کی

ی ویاړیږی

ی بشکاری په ایثار کی

تاریخ دی

دهیواد په هر دیار کی

خدای لار کی

نیت په هر یو کار کی

ریږی

دی ستا په هر گذار کی

بوله

دشاعر په هر گفتار کی

کی له سرعت نه

ته نه وی په تلوار کی

ت صفت دی

یو شعار کی٠

حقانی څخه غوښتنه وکړه چی د پوهنتون د تاسیس داهدافو په باره کی څه وواییی همدا رنګه له دوی نه غوښتنه وشوه چی حاضرینو ته دجهاد په متعلق نور ضروری او علمی مطالب هم واوروی .

مجاهد مشر خپله وینا په دی جملو شروع کړه چی الله جل جلاله مسلمانان د نورو مکلفیتو نو څنګ کی په نژدی یا په لیری منطقه کی د جهاد په مکلفیت مامور کړی دی او جهاد تر قیامته پوری جاری دی . مجاهد مشر د اسلام د پیغمبر د بعثت په یادونه او د هغوی د رسالت په تذکر کی وویل چی د اسلام پیغمبر په هغو شرایطو کی مبعوث شو چی په مکه معظمه کی دری سوه دیارلس یا دری سوه شپیته بتان ایښودل شوی وو او کفر او بت پرستی اوج ته رسیدلی و او د یارلس کاله یی د هغوی د تکلیفونو او اذیتونو تحمل وکړ نو الله جل جلاله هغه په هجرت مامور کړ او هلته سره ددی چی دیارلس کاله یی د رسالت پیغام اورولی و خو له مکی معظمی نه یوازی د دووتنو سره یعنی د حضرت صدیق او یو بل تن سره چی لاره ور معلومه وه ووت خو بیا د جهاد په برکت د مدینی منوری نه لس زرو تنو مسلح پوځ سره مکی معظمی ته راغی .

حقانی صاحب وویل چی الله پاك د اسلام دین د جهاد له لاری حاکم کوی دوی وویل چی خلقیانو پرچمیانو روسی غلامانو او نورو کمونستانو د الله جل جلاله د وجود نه انکار وکړ او مونږ د هغوی سره په جهاد مکلف یو د وینا په ترڅ کی مجاهد مشر وویل زمونږ جهاد اوس داسی مرحلی ته رسیدلی چی د جهاد په برخه کی ټول دینی احکام وظایف او وجایب او د جهاد حالات تر اوسه پوری ټولو ته معلوم شوی خو هغوی د دریو مهمو نکاتو تذکر ضروری وباله او داسی یی وویل چی مونږ او تاسو ټولو ته معلومه ده چی زمونږ د هیواد پوځی قوتونه سره ددی چی لوړ عسکری تربیه لیدله او ډیر لګښت ورباندی کیده خو ډیر موثر نه وو په دی باره کی هغه د ظاهر شاه د عصر د نظامی روزنو او لګښتونو مثال راوړ اوویی ویل چی د ظاهر شاه عصر ځکه ذکر کوم چی دا دوره ستاسو مخکی تیره شوی ده وویل چی دظاهر شاه په وخت کی عسکرو ته ډیر تعلیم ورکول کیده او ډیر لګښت ورباندی کیده خو اساس یی غلط و ځکه چی د دینی علومو نه برخوردار نه وو په دینی عقایدو باندی پوه نه وو نو هغه پوځ د کودتا مخنیوی ونه کړه نو هر څومره چی سړی تعلیم زده کړی خو چی تعلیم دینی اساس ونه لری په داسی حالاتو کی مفید نه ګرځی په دی برخه کی روسان او د روسانو د پوځونو په یادونه کی وویل چی روس ټول قوت درلود خو د غریبو

افغانانو په مقابل کی مقاومت ونه کړای شو ځکه افغانانو سره دینی قوت او اسلامی طاقت موجود و دهغه وخت د ملحدو افسرانو په باره کی وویل چی هغوی د دینی عقیدی نه هیڅ خبر نه وو کوم څه یی چی زده کاوه عمل یی پری نه کاوه هلته د دین زده کولو ته نه التفات و او نه دین ته کوم احترام کیده نو عسکری تعلیم ورته ګټه ونه کړه ، دملت حفاظت یی ونه کړ بلکی پخپله د روسانو سره ملګری شول او روسان یی د خپل کور د لوټ کولو او نیولو لپاره راوستل او هغه وسله چی باید د دښمنانو او کمونستانو په مقابل کی او د خارجی یرغلګرو په مقابل کی استعمال شوی وای هغه یی په مسلمانانو استعمال کړه ده وویل چی په روسانو او بیا په تره کی امین ببرك او نجیب باندی د نظامیانو د خرڅیدلو علت او د هغوی د بدو اعمالو سبب د دین نه ددوی بیګانګی وه مجاهد مشر د دښمن په مقابل کی تهیه او تجهیز ضرور وباله او د خدای تعالی دا حکم یی د تفسیر او ترجمی سره توضیح کړ چی فرمایلی یی دی (واعد والهم ما استطعتم من قوة .... الاية) ده محصلینو ته وویل چی د اسلام د هر ډول مخالف قدرت مقابله وکړی ده وویل چی که زمونږ ملاتړ او کومك څوك وکړی او که ونه کړی مونږ او تاسو به تر هغه وخته مقابله کوو چی په

وطن کی د اسلام حاکمیت نه وی راغلی . محصیلینو ته د مجاهد مشر دویمه توصیه دا وه چی د مرتدینو او کمونستانو سره مقابله وکړی او وی ویل هر قوم چی خدای د جهاد لپاره د مرتدینو او کفارو په مقابل کی را پورته کړی دوی د خدای محبوب بندګان وی او د الله جل جلاله سره به محبت کوی یعنی په جهاد کی د دوی هدف نه د چوکی ګټل وی نه د ډوپکو تر لاسه کول وی نه د غنیمت ګټل وی بلکی د خدای د رضا حاصلول وی دوی به نه د یو مخلص مسلمان وینه تویوی نه به یی مال غارت کوی او نه به یی شړی دهغوی به خدمتګار محبت کونکی او ترحم کونکی وی او د کافرانو په مقابل کی به متشدد وی . مجاهد مشر محصلینو ته وویل چی زمونږ هدف جهاد دی او د جهاد د کامیابی نه وروسته هغه چا ته به را یه ورکوو چی اهلیت ولری مجاهد مشر څرګنده کړه چی زعامت لیډری امریت یا قدرت نه غواړی بلکی د ټولو محصلینو نه یی داغوښتنه وکړه چی د کفارو او د اسلام د دښمنانو په مقابل کی یی ملګرتیا وکړی ددی خبری سره یی وویل چی د مسلمان په مقابل کی په سیاست او زعامت کی مونږ له تاسو نه هیڅ تقاضا نه کوو او پوهنتون کی باید دا فکر چاته پیدا نه شی چی دی د یو تنظیم او پوهنتون د

کوم بل تنظیم دی دا پوهنتون د مسلمانو افغانانو او د مجاهدینو پوهنتون دی کومی پیسی چی پری مصرف شوی د مسلمانو افغانانو او د مجاهدو د پاره دی ده وویل چی هغه پیسی نه دده شخصی پیسی دی او نه د تنظیم شخصی پیسی دی او په پوهنتون کی د تحزب فکر نشته حقانی صاحب افغانستان کی ددایمی اسلامی حکومت د جوړیدلو تر وخته پوری د موقت عبوری حکومت اطاعت لازمی وباله اوویی ویل دهغه حکومت له جوړیدونه وروسته بیا دافغانستان د اسلامی حکومت چی اسلامی قدرت ولری اطاعت لازم دی . د مجاهد مشر ددی مفیدی وینا نه وروسته د منبع العلوم د مدرسی له صدر مولوی عزیز خان نه غوښتنه وشوه چی دوی هم د غونډی د موضوع په ارتباط څه ووایی او بیا د غونډی اختتامیه دعا دی وکړی مولوی عزیز خان خپله وینا په دی جمله شروع کړه چی د اسلامی دولت د پایښت او ساتنی لپاره دری شرطونه ضرور دی یو شرط یی ښه اسلامی اداره ده یعنی داسلامی دولت اداره باید صحیحه او د اسلام له اصولو د پیغمبر له سنت او د فقهی له قضایا وسره برابره اداره وی ده وویل چی که د دولت اداره په دی صفاتو موصوفه وی هلته شکایت او یا گله نه موجودیږی ده دویمه پایگاه او لازمی شرط د عدالت موجودیت وباله او ویی ویل که په یو دولت کی عدالت موجود وی هلته هیڅ ډول اعتراض ته مورد نه پاتی کیږی دریم شرط یی دفاعی توان یاد کړ اوویی ویل چی د اسلام د مقدساتو او د اسلامی وطن دفاع او د دفاع لپاره د حرب چمتو والی او حربی مهارت یو مهم شرط دی د ده پخپله جذابه وینا کی محصلینو ته وویل چی تاسو د یو عالی هدف لپاره روزل کیږی نو باید راسخه اسلامی عقیده ولری او زیاته یی کړه چی په اسلامی نړی کی هر بری د اسلامی د ر سونو او اسلامی احکامو د تطبیق او اسلامی عقیدی د راسخوالی نتیجه وه ده محصلینو ته وویل چی ستاسو مسئولیت ډیر درونډ دی او دلته ستاسو راتگ د الله جل جلاله سره تعهد دی الله جل جلاله حاضر او ناظر دی او ستاسو حمایت کوی . تاسو ته ډیر درونډ مسئولیت درپه غاړه دی تاسو ته دا ټول شیان د شهیدانو امانت د اسلام امانت او د ټولو مسلمانانو امانت دی نو ایجاب کوی چی له دی ټولو نه داسلام په خدمت کی استفاده وشی . صدر صاحب ددی مفیدی علمی وینا په پای کی د غونډی اختتامیه دعا وکړه او دهغی دعا سره غونډه پای ته ورسیده

د روسانو د تجاوز د

د غندنې او مذمت غونډه

د ۱۳۵۸ کال د جدی د میاشتی شپږمه نیټه زمونږ د اسلامی هیواد د تاریخ هغه توره ورځ وه چی د روس د وحشی پوځونو متعددی فرقی د ځمکی او هوا له لاری زمونږ پاکی اسلامی خاوری ته د ملحدو او وطن خر ځوونکو په همکاری د الحاد د تحمیل او د روس دالحادی حاکمیت د تاسیس په هڅه را ننوتل او ددی مسلمان او متدین ملت داسلامی هویت او ـ تاریخی او جغرافیایی تشخص دمحوکولو لپاره په عامو قتلونو تاړاکونو او دښارونو کلو او کورونو په ویجاړولو چی ددوی ملحدو خلقی نوکرانو پیل کړی و لاس پوری کړ . د ۱۳۵۸ کال داتوره ورځ هغه له وحشته ډکه ورځ وه چی د وحشی ملحدو روسانو هغه منفور بیرغ چی د ملیونونو انسانانو په پاکو سرووینو لړلی بیرغ دی دهغوی د توپونو او ټانکونو دپاسه زمونږ پاکی اسلامی خاوری ته هم دنورو ملیونونو بی گناهو متدینو افغانی مسلمانانود پاکو وینو نه دزیات رنگ اخیستلو لپاره راوړل شو . دا ورځ د بورومیندو اسکیرلو پلرونو ویرجنو کونډو ارمانجنو یتیمانو بی وسو معیوبینو او د ټول در دیدلی مسلمان ملت د غمونو دردونو حسرتونو ارمانونو اوسیلو او سلگو د توپان ورځ ده د روس د وحشت نه د نفرت ښودلو ورځ ده . ددی توری ورځی تقبیح د افغانستان هرکلی هرکور هره جونگړه او هره کیږدی کی او د افغانی مهاجرینو په هر کیمپ کی کیږی . مونږ دلته خپلو لوستونکو ته ددی توری ورځی د تقبیح دهغی غونډی لنډ اجمال وړاندی کوو چی میرانشاه کی په همدغه مقصد جوړه شوی وه . داغونډه دهغو سوونو زرو مهاجرینو او انصارو د پاکو اسلامی احساساتو څرگند وی او دهغه نفرت ښکاره کونکی وچی زمونږ مسلمان ملت او زمونږ انصار ورونه د کمونستی وحشت ، کمونستی الحاد ، کمونستی اعمالو ، کمونستی پلان او کمونستی پروگرامونو نه یی لری . سره ددی چی زمونږ مومن ملت د حقیقی معبود په نصرت دهغه وحشی قوم په شړلو کامیاب شو خو لاهم دهغوی ټانکونه توپونه بمونه دهماغه الحادی او کمونستی پلان دعملی کولو په جنایاتو بوخت دی .

دا غونډه د قرآن کریم په تلاوت د سهار په لسو بجو یعنی وروسته له هغه پیل شوه چی مجاهدینو مهاجرین او انصاروته د ډیرو لیری سیمو نه د موټرونو په

ذریعه راورسیدل . غونډه د میرانشاه د ښار لویدیزه
١ خواکی په یو ډیر ارت میدان کی چی د سوونو زرو مهاجرو او انصارو ټولیدلو ته ډیر موزون ځای او ارته ساحه ده ، پیل شوه میرانشاه چی د مهاجرو لوی کمپونه پکی دی زمونږ له خاوری نه ډیره زیاته فاصله نه لری نو دغو شیبو کی هم مونږ د وحشی رژیم دهغو الوتکو غرهار اوریدل چی د افغانستان دننه په هغو متدینو خلکو یی اورونه ورول چی ددوی له وحشت او الحادی مسلك نه یی نفرت درلود .

دقران کریم له تلاوت نه وروسته حاضرینو ته د منبع العلوم د مدرسی ددووتنو طالب العلمانو له خوا د روسانو د ظلمونو په باره کی یوه جذابه ترانه واورول شوه چی مطلع یی داوه (کلوته روانی قافلی د روس شنی لوخړی جگیدلی) .

ددی ترانی نه وروسته د حرکت انقلاب اسلامی د میرانشاه نماینده مولوی رسول محمد یوه لوړه دینی وینا وکړه او دروسانو د پوځونو تجاوز یی یو وحشت او جنایت وباله د محترم مولوی صاحب له وینا نه وروسته د منبع العلوم د مدرسی شاگردان د سټیج خواته د حرکت په حالت کی راښکاره شول په دی ځل کی ددوی شمیر کی زیاتوالی راغلی و او بیایی هم دهغو متجاوزینو په تقبیح کی حاضرینو ته یوه ترانه واوروله خو داځل ددوی ترانه کی یو ډول خاص خوږوالی وځکه چی دی ترانه کی دهغو متجاوزینو دایمی شکست اودی اسلامی خاوره کی دهغو د سوونو زرو تخریبی وسلو د تباهی واقعیت ښودل شوی و . دا ترانه له دی مطلع سره شروع شو چی :

لاړل شورویان په هرځای ورانی وسلی پریښوی

الحاج مولانا حقانی دروس دبیرغ دسوزولو لپاره او رنگیت په لاس دکامیابی له خندا سره د هغه بیرغ لوړی ته ځی .

دروس بیرغ داورلمبوکی دسوزېدلوپه حالت.

بکی له وسلو نه په هرځای چاوڼی قشلی پرېښوی

دوی داسلام بیرغ ته هم د اسلام پیشکش راوړی و
ځکه چی دروس له شکست سره داسلام دښکلی بیرغ
رپېدل د ټول هیواد دښایست نشان ګرځی نو ددوی
له معصومو حنجرو نه دا ترنم پورته شو چی
« رب دی وچت کړه چی دی وکړو احترام بیرغه
ای داسلام بیرغه ای داسلام بیرغه »

ددی خوږی ترانی نه وروسته اتانسر دملی نجات د جبهی د میرانشاه نماینده ته بلنه ورکړه چی غونډی ته خپله مفیده وینا واوروی وروسته له هغی وینا نه غونډی ته د طالب العلم فقیر محمد له خوا د کونینو د سردار صلی الله علیه وسلم نعت واورول شو دا نعت فقیر محمد د عظیم الشان قران له دی ایت سره شروع کړ چی (ماکان محمد ابا احد من رجالکم ....الایه) بیانو د اسلام دحقی لاری د ستر مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی څخه غوښتنه وشوه چی خپله عالی دینی موعظه او ضروری نصایح واوروی .

حقانی صاحب خپله دینی موعظه دخدای د حمد او دخدای په محبوب رسول باندی له صلوة نه وروسته په دی جملو پیل کړ : عزتمندو مسلمانانو مهاجرینو انصارو د جهاد په مناسبت او د روسانو د تجاوز په تقبیح کی جلسی ډېری شوی خونن په دی درنه جلسه کی هغه خبری د هرتن له خولی نه دیو واقعیت په ډول اورو چی پخوا به د پیشګویی په ډول یا دیده. الله جل جلا له د روس سنګرونه په تاسو مات کړل .

دنیا به ویله چی کوم ځای ته روس ننوزی بیرته نه راوځی خو الله جل جلا له بی سر اوبی سامانه بی ټانك اوبی توپ او بی طیاری بی پیسی بی وسلی

او بی نظمه مسلمانان یی پورته کړل او روسی کافران یی خپل وطن ته د ناکامی په بد حالت کی بیرته ولیږل . مجاهد مشر خلکوته خطاب کی وویل چی ستاسی د جهاد او د تکبیر د ناری په برکت د دبرلین دیوال ړنگ شو شرقی اروپا ازاده شوه اوپه کمونیزم باندی لعنت او نفرین ویل کیږی . مجاهد مشر د جهاد دلومړنیو ورځودحالاتو دنن ورځی له لویو کامیابیو سره مقایسه کی وویل چی اوس کمونستان په هر ځای کی د محاصری په حالت کی دی په هوایی میدانونوکی یی طیاری نه شی کښیناستلای خپلو مړوته انتقال نه شی ورکولی لرگی نه شی پیدا کولی په سرکونو باندی تگ کولی نه شی خپل پوځی ځایونه ساتلی نه شی او قدم په قدم خپل ځایونه پریږدی او مسلمانان مخ په وړاندی ځی . حقانی صاحب مجاهدین مهاجرین او انصاریی دکمونستو ملحدینو پروپاگندوته ملتفت کړل او ورته یی وویل چی کمونستان او د هغوی همکاران پروپاگند کوی چی مجاهدین ورونه پرهغو خلکو باندی چی ورته تسلیم شی ظلم کوی حال دا چی دوی پخپله په بد له جامه کی ځانونه داسی وښیی چی مجاهدین دی او غریب او متدین او بی دفاع مسلمانان ځو روی او په شهادت یی رسوی او په مجاهدینو تورلگوی ده د ظاهر شاه دخیانتونو په یاد ولو کی وویل چی د کمونستانو د بی دینی فعالیتو نه او په افغانستان کی د روسانو نفوذ د ظاهر شاه د عصر محصول دی او د روسانو د تجاوز مسئولیت لری نو هغه په اوس وخت کی د افغانستان په مسلمان او مجاهده ټولنه کی هیڅ ځای او حیثیت نه لری اونه به ورته د راتللو اجازت ورکړ شی . همدارنگه مجاهد مشر تاکید وکړ چی اوس هم هغه خلک چی له رژیم نه اوړی اوله مجاهدینو سره یو ځای کیږی مجاهدین به ورته داحترام په نظر وگوری او ویی ویل چی د نجیب له رژیم سره زمونږ جهاد د حق جهاد دی .

ددی گټوری علمی وینا نه وروسته زمونږ مجاهد مشر میرانشاه کی د ټولو مجاهدینو او مهاجرینو له خوا د روس کمونستی بیرغ ته د ټولو حاضرو مجاهدینو او مهاجرینو مخکی اور واچاوه او هغه بیرغ یی د کمونستی سیستم نه د نفرت د اظهار په ډول د ټولو مخکی وسوځاوه غونډه د منبع العلوم د متعلمینو له خوا د محترم ورور پکتیا وال صاحب ددی ترانی سره دورځی په دوو بجو پای ته ورسیده چی ویل یی

ټول انتظام د مجاهد ونیسه
په لاس کی توره د خالد ونیسه

دغونډی په پای کی دمجاهدینو او مهاجرینو له خوا یوه قطعنامه صادره شوه چی هغه کی دی مهمو مطالبو ته ځای ورکړ شوی و :

١ ـ دنجیب او دنجیب دهمکارانو او رژیم سره زمونږ جهاد صحیح جهاد دی

٢ ـ دعبوری حکومت تشکیل دی دنورو مجاهدینو او مهاجرینو د عضویت لپاره نورهم وسیع شی

٣ ـ ظاهر شاه په افغانستان کی دټولو پیښو مسئول دی

٤ ـ هغه خلك چی اوس هم د نجیب له تسلط نه مونږ ته راځی مسلمانان او زمونږ ورونه دی نو باید چی توهین او تحقیر نه شی .

چکنوریوال

دکمونستانو وحشت

او فجایع

زمونږ خلك دتاریخ په اوږدو کي د ډیرو متجاوزینو سره مخامخ شوی او دهغوی د پوځی وحشتونو مقابله کړی خودکوم کفری وحشت سره چی مونږ دکمونستو ملحدینو دمقابلی په وخت کي مخامخ شو او لاهم ورسره مخامخ یو دټول تاریخ په اوږدو کي هیڅ ډول ساری نه لري ملحدینو دپلرونو او میندو مخ کي زامن ځورولي او سختي شکنجي یی ورکړی، داولادونو مخکی پلرونه یي ترتعذیب او شکنجي لاندی نیولي . دشپو په تیارو کي پلرونه یا زامن یاټول یي له کورونوڅخه دوژلو لپاره بیولي څرنگه چي هغوي په دین حشر او داعمالو په جزا عقیده نه لري، عاطفه، همدردي، ترحم او شفقت نه پیژنی په دین عقیده درلودل دکمونیزم په سیستم کی یو ډیرلوی جرم او پر دین باندی معتقدین دسختو جزاگانو مستحق گڼل کیږی. کمونستانو دکمونیزم دتور او کرکجن تاریخ په اوږدو کی ډیر سخت عکس العمل داسلام دپاك دین په مقابل کی ښودلی مسلمانان دروسانو ترجغ لاندی هم دتزاری تسلط په زمانه کی او هم دکمونستی وحشت په مرحله کی کړاوونه لیدلی. اسلام هغه پاك دین دی چی دواحد خدای د پرستش امرکوی او دخدای دذات نه پرته دبل مخکی دسرټیټولو ممانعت کوی.

کمونیزم دژوند ټول نظام دخوراك له پاره یوه مبارزه گڼی او په معنوی، روحانی او اخلاقی ارزښتونو او په دینی لوړو دروسو چی دژوند غایه ښیی او دانسان دواقعی صفاتو تشریح او توضیح کوی عقیده نه لری ددوی د دهریت، الحاد او دفحشا او بي قیدی د نظریاتو سره دضدیت له کبله دهغوی لومړنی تصادم دمسلمانانو سره شوی، **کمونستان د ژوند هدف داسی ښیئ** چی پرته له خوراك اوڅښاك اوجنسی غریزی یا په بل عبارت پرته له نفساني خواهشاتو نه کوم بل هدف نه لری مسلمانانوهغو ځمکو کی چی دروس ترتسلط لاندیدوی ——

دپاکی اسلامی عقیدی له پاره ډیر سخت کړاوونه وزغمل دوی داسلام دپاك دین په پاکه مینه کی دوحشی کمونستانو له خوا خصوصاً دسټالین، فرونزی او دلینن له خوا هغه ناخوالی، عام قتلونه، لوټه اوبي حرمتی ولیدلی چی هیڅ یوبل دینی او مذهبی ټولگی نه ولیدلی.

له هغه وخت څخه چی اسلامی نهضت او تمدن په

منځنی اسیاکی دکمونستانو له خواشنه او ناکام شو هغوی داسلام په ضد هغسی دوحشت نه ډك اقدامات وکړل چی دنړی په تاریخ کی هیڅ ساری نه لری . دمسلمانانو جوماتونه هلته په بشپړ ډول شهید کړ شول ، دخدای مقدس کلام له ټول هیواد څخه ټول کړای شو ، داسلام په ضد په کورونو ، دکانونو ، مکتبونو او یونیورسټیو کی ددښمنی او عناد لوی جنایت پیل شو . علمأ او مدرسین ووژل شول مدرسی یا په مارکیټونو بدلی شوی یا ورانی شولی ، مسلمانان مجبور وګرځول شول چی اسلامی عقیده ترک کړی او بی باکیوته مخه وکړی . پدی اقداماتو کی دهغوی هدف داؤچی دمسلمانانو له اذهانو ، له افکارو له مشاعیرو معروفاتو او دو دونوڅخه داسلام ، اسلامی دیانت ، اسلامی غیرت ، اسلامی تمدن او اسلامی ماضی محوه او نابوده کړی . داډول خیانت دښمنی او تیری دکوم بل دین په مقابل کی په هغه خاوره کی نه ؤشوی .

زموږ پرخاوری باندی دهغوی دتجاوز نه پخوا موږ داسی فکر کاوه چی دابه دمسلمانانو دانفرادی اشخاصو دهغو مقاومتونو له کبله وی چی دالحاد او ملحدینو په مقابل کی یی ښودلی وو خو تاریخ موږ ته داواقعیت هم وښود چی کمونستی الحاد دخپل وحشی سیستم په تطبیق او عملی کولو کی یواځینی خنډ اسلام وینی . دهغوی دوحشت تاریخ او د جنایاتو ټولی پیښی او ټول تیری تجاوزونه شکنجی ، عام قتلونه دنورو دسترګو مخکی دخلکو وژنی زموږ خپل هیواد کی تکرار شوی .

کمونستان هغه وحشیان دی چی دتقریبأ یونیم ملیونو بیګناه خلکو نه چی په سلو کی اویایی بی دفاعه ښځی ماشومان سپین ږیری او معذورین وو دپاکو وینو ویالی یی وبهولی خو لاهم پښیمانه ندی ، دوی هغه وحشیان او ملحدین دی چی په خپل کور ، کلی کی دخپل پلار او ورور پسی دروسی ټانکونو سره راغلل ، موږ داسی ډیر واقعیتو نه دخلقیانو او پرچمیانو دفجایعو په جمله کی ولیدل چی کمونست زوی مسلمان پلار دروسانو دوحشت تیغ ته وړاندی کړی دی .

زموږ په هیواد کی کمونستانو یواځی زموږ ددین په ضد نه ؤپاڅیدلی بلکی زموږ تاریخ او تاریخی روایات او عالی صفات یی هم غلط تعبیر کړل .

زموږ خلك یی دلکونو په شمیر په یو نوم او بل نوم ووژل زموږ کلی یی په بمباریو او دتوپونو په ګولیو وران کړل ، زموږ هیواد یی دروس وحشیانو ته دوفاداری په نامه دسوغات په ډول وړاندی کړ . او داوطن چی داسلام دتمدن زانګو او دلویو اسلامی مفکرینو ټاټوبی ؤ ، دیو بي اهمیته او بي قدره متاع په ډول دهغوی په اصطلاح لوی شمالی ګاونډی ته عرضه کړه اوخپلی خویندی ، خپل زامن او خپل بچی یی دومنو افغانانو په ضد او داسلام دمقدس دین په ضد دحسد اوکینی داکتساب له پاره دروسیی دخاوری خاصو تربیتی مرکزونو ته ولیږل څو هلته داسلام او مسلمانانو په ضد دنفرت درس واخلی . روسانو دوی دومره بي حیأ او بي ایمانه روزلی چی لاهم په داسی یو حالت کی چی ددوی او ددوی دنورو انډیوالانو کورونه ، کلی ، استوګنځی دروس په بمونو وران شول لاهم خپل جنایات نه پریږدی . الحاد او بي دیني ددوی ټول وجدانی خواص او اخلاقی غریزی چی انسانانو کی موجو دی وي له منځه وړی . کوم شی چی روسانو دوی ته ورکړی هغه دخپل تسلط لاندی مؤقتی چوکی دی . دچوکی تکل له دوی څخه وحشیان آدم خواره ، وطن پلورونکی او بي وجدانه انسانان جوړ کړل .

اوس چی روسانو ته دافغانستان مجاهد ملت ماتي ورکړه لاهم دوی دهماغو اهدافو له پاره ددی هیواد خلك وژنی . دوی دروسی منصبونو له پاره کورونه ،

جوماتونه، ديری اوحجری ورانی کړی او لاهم دروسی الوتکو، دروسی توغنديو او بمونو په واسطه داخلك چی ددين او وطن په مينه په وړو نسونو او سپيرو شونډو دظلم مقابلی ته راوتلی، وژنی.

دتړکی، امين، ببرك، نجيب، او ددوی وحشی صفته همکارانو وحشت بنايی دزمانو په تيريدو له ډيروخلکو نه هيرشی. خود تاريخ له مخ نه دسوونو پيړيو په مودو کی نه محوه کيږی. دوی دافغانستان خلك داسلامی عقيدی دلرلوله کبله او دالحاد او دروسی الحادی نظام او دروسی امپرياليستی اهدافو سره ددښمنی له کبله وژلي. دوی داخلك داسلام او وطن دايمان او ناموس ددفاع له کبله وژلي، دوی افغانان پدی علت شهيدان کړل چی دروسی وحشی ټانکستانو چی يی زمونږ پر اسلامی خاوری حمله وکړه غاړوکی دګلونو امیلونه وانه چول. دوی پدی له منځه وړل کيږی چی لوی او واحد معبود ته سجدی کوی. دوی يی پدی شهيدانول چی دهغه قرآن په مينه کی توره اخستی ده چی دسوله ډيز ژوند سپارښتنه کوی شايد دهغو نيمو شپو وحشت چی کمونستی وحشيان دمؤمنو پسی په تورو موټرونو کی راتلل او پليګون کی يی په خپلو لاسونو وژل کمونستانو ته سطحی پيښی وی ځکه چی دانسانانو عام قتلونه دهغو داساساتو له مخی دکمونستی منشور دکاميابی لپاره يو جائز او ضروری شرط ګڼل کيږی خو تاريخ ددوی جنايات ثبت کړی. دا هغه جنايتونه دی چی دمقايسی په حالاتو کی هيڅ ساری نه لری. دوی قتل او وحشت ديو فاسد او دانسانی فطرت ضد سيستم لپاره ترسره کوی. ددوی دښمنی داسلام په ضد ډيره کلکه دښمنی ده ځکه يوازينی دين چی بشريت ته داخلاقو مکمل دستورالعمل او هوسايی ورکوی اسلام دی.

داسلام تاريخ داسلام ددښمنانو ددسيسوله کيسونه ډك دی. اسلام او مسلمانانو ته يوازی داسلامی عقيدی، داسلام دمينی او داسلام داحساس له لاری خدمت کيدلی شی. اسلام يو کامل دين دی چی داعتقاداتو، تعبداتو او تشريع ټول اړخونه يی په تفصيل توضيح او تشريح شوی.

زمونږ مقدسه اسلامی عقيده له مونږنه داغواړی چی خپل سنګرونه دمکارو دښمنانو په مقابل کی ښه کلك او پياوړی کړو.

دکمونستانو سره زمونږ داوږدو کلونو مقابلی مونږ دملحدينو دتاکتيکو نو سره ښه اشنا کړو. وختونه زمونږ نه غواړی چی حالاتو او شرايطو ته ويښ واوسو زمونږ لاره داسلام لاره ده او داسلام لاره په نړی کی ډير دښمنان لری ځکه چی داهغه لاره ده چی بشريت ته دمحکوميت او امپرياليزم نه او دامپرياليزم له پړو او ښکاره دسيسو نه نجات ورکوی. که مونږ پدی لاره کی لږغوندی سستوالی اويا کمزورتيا محسوس کړو بيانو مونږ به دآزادی ملی حاکميت او ديو هوساژوند په ګټلو کی دډيرو ناخوالو سره مخامخ شو. زمونږ حقيقی منزل چی مونږ ته بری ګټی له مونږ نه ډير ليری نه دی خو رسيدل ورته له مونږ نه ډير عميق تدبر، صبر، ثبات، جرأت او يو عالی احساس غواړی.

دهر ملت په ملی او سياسی ژوند کی داسی مرحلی وی چی که بي اهميته وګڼل شی ډير زيان به ورته ورسيږی.

زمونږ دملی تاريخ هماغسی شيبی رارسيدلی چی زمونږ دويښتوب او ځيرتيا او دجهاد دسنګر قوت غواړی.

داسلام او دښمنانو يو بل جنايت

داسلام دښمنان هر وخت کی داهڅه کوی چی د خپلو جناياتو پواسطه داسلام د کاميابيو مخه ونيسی دوی له دی نه غافل دی چی هره د سيسه ئي د مسلمانانو دلاپياوړتيا سبب گرځی. دوی دمسلمانانو دښمنی کی د هری وسيلی او هری طريقی نه کار اخلی . هماغسی چی متجاوز پوځونه ئي د جنگ ميدان کی د توپونو او ټانکونو سره داسلام پرمؤمنو مدافعينو باندی اورونه وروی او د تباهی زهرو نه پری شيندی او د بمونو سرو اورونوکی ئي سوزوی او داسلامی عقيدی د کمزوری کولو لپاره ئي داسلامی افکارو په ضد دسيسی جوړوی دهغولويو شخصيتونو ترور او قتلونه هم کوی چی دمظلومانو همدردی او دبشر د حقوقو حمايت او دافغانانو د مظلوميت ملاتړ کوی او دعامه خير يه مؤسساتو مسئولين دی همدغه جنايتکاران د دغو صفاتو د خاوندانو نه شاه محمد ئی په کندهارکی او عبدالله عزام ئي په پيښور کی شهيدان کړل. دوی دی ډول قتلونو او جناياتو ته منظم پلانونه طرح کوی او د هغو پلانونو د تطبيق هڅی کوی. داسلام په ضد د دښمنانو پلانونه ډير انواع او ډير اقسام لری کله صهيونستانو او روسانو

شهيد عبدالله عزام

غوندی په اسلامی هیوادونو دتسلط پلانونه رامخته کوی کله داسلامی عقیدی نورو فعالو دښمنانو ته دوسلو او وسایلو د تهیی هڅی کوی او کله ئي د دښمنی اعمال نوری ښې نیسی. ددی ټولو اعمالو او دسایسو هدف دادی چی دمادیت او بی قیدی مخه خلاصه وی او د کفر او کفری استعمار او استثمار په ضد جهاد ناکام شی دی هدف ته داسلام د مفکرینو مجاهدینو، مبلغینو او مبارزینو دانفرادی قتلونو د جنایاتو منظم پلانونه طرح او دهغو پلانونو د تطبیق هڅوکی دی.

ددی ډول جنایاتو یو ډیر زړه دردونکی عمل داسلام د منلی مفکر مجاهد مبلغ مبارز او معلم ډاکتر عبدالله عزام او ده ددوو زامنو محمد او ابراهیم په ضد د سیسه وه چی په نتیجه کی یی دری واړه

شهیدان شول. داسلام دښمنانو ددغه وحشت او جنایت دترسره کولو لپاره داسی یو فرصت ټاکلی وچی دادری تنه مجاهدین دجمعی لمانځه ته د مسجد لوری ته روان ؤ د اسلام دښمنانو ددی دریو تنو معینه لاره کی بم ایښی ونو کله چی ددوی هغه موټر چی دری واړه پکی سواره وو دبم په ځای چی وحشی دښمنانو ایښی ؤ ورسید بم انفلاق وکړ او هغوی دری واړه ځای په ځای په هماغه ورځ چی د (۱٤۱۰) هـ ق کال د ربیع الثانی دمیاشتی (۱٤) نیټه وه شهیدان شول. انا لله و انا الیه راجعون.

عبدالله عزام او زامن ئي داسلام دخدمت په مقصد دی ځای ته راغلی وو. هغوی دلته داستوګنی په ټولو مودوکی د مظلومو افغانانو کونډو یتیمانو او مهاجرو افغانانو د حمایی او ملاتړ دفکری بدنی او مالی جهاد نه پرته بل شوق نه درلود. او همدارنګه عبدالله عزام دامت مسلمه کانه غوړونه خلاص، ړندی سترګی بینا او غافل زړونه یی ویښ کړل او ډیر مسلمانان چی د جهاد الافغان نه مخکی ښکلی مسلمانان نه وو د عزام په تالیفاتو خصوصاً د آیت الرحمان فی جهاد الافغان په مطالعه حقیقی مسلمانان وګرځیدل. دشهید عزام ټول ژوند داسلامی علومو تدریس او مسلمانانو کی داسلامی مینی، اسلامی احساساتو او اسلامی وحدت او غیرت تلقین او اسلامی اهدافو ته د هغوی ځیر کول ؤ. دوی دی ځای ته د شهادت د مینی سره راغلی ؤ او هغوی دری واړه شهادت ځانونو ته دراتګ نه مخکی غوره کړی ؤ خو داعمل دمرتکبینو په برخه کی د مرتکبینو داسلامی ضد نیت او داسلام سره ددښمنی هویت لانورهم رسواکړ. مونږ پوهیږو چی داعمل داسلام ددښمنانو کوم نوی عمل نه ؤ هغوی تل او په هر ځای کی داسلام په ضد داسی اعمال او ددی اعمالو مترادف او معادل عملونه ترسره کوی خو زمونږ د صفونو پیاوړتیا دښمن ته وښود چی داسلام او اسلامی جهاد سنګرونه په دی وحشتونو نه کمزوری کیږی. داهغه اعمال دی چی مونږ ئي دفلسطین **محکومه پا کـه** خاوره، بیت المقدس او افغانستان او نور ځایونو کی چی د کفر تر تسلط لاندی دی وینو. داسلام ددښمنانو دا اعمال ددی په ځای چی مسلمانانو کی دهشت وغورځوی دوی ته لانورهم کلك عزم او پیاوړتیا بخښی.

شهید عبدالله عزام او زامنوئي داسلام دمینی امتحان کی دخدای حضور ته بریالی لاړل دوی هم مجاهدین وو او هم د مجاهدینو خدمت ته خپل توانونه وقف کړی ؤ. که څه هم عبدالله عزام شهید شو لیکن بیا هم نیکبختا نه هغه د خپل ځان غوندی په سلهاؤ شاګردان روزلی دی. عبدالله عزام ته جهاد او د مجاهدینو خدمت د افغانستان د مسلمان ملت د مجاهدینو صفونو کی یو خاص محبوبیت بخښلی و.

ده ته د مجاهدو قوماندانانو صحبت او څمونږ جهاد کی د خدای د نصرت دواقعیتونو بیان ډیر لذتؓ باخښه. عبدالله عزام داتو کالو راهیسی زمونږ په جهاد کی شریك ؤ او دافغانستان زیاتو برخو ته د جهاد او د مجاهدینو دخدمت په منظور سفرونه کړی وو. زامن ئي هم مجاهدین او د حق د سنګر جنګیالی زلمیان وؤ. مونږ دعاکوو چی خدای دی ددوی شهادت منظور او دوی ته په بهترینو جنتو کی ځای او مقام وبخښی. پدی کی شك نشته چی شهادت عبدالله عزام او زامنو ته ئي او نورو ټولو مجاهدو او مبارزو مسلمانانو ته چی داسلام کامیابی خپل هدف ګڼی یو لوی ویاړ او دحق لپاره د قربانی امتحان کی لویه کامیابی ده خو نورو مبارزینو او مجاهدینو ته د دوی د همرزمی او مجاهدت نه دمحرومیدلو ډیره خواشینی ده: څمونږ خلك به تل ددوی ایثار عقیده او قربانی په یاد کی وساتی او دوی ته به دعا کوی. اللهم اغفرلهم وارحم علیهم.



داسلام ملی مفکر مجاهد شهید داکتر عبدالله عزام.

دجهاددسنګرونو
خبرونه

دخوست اوګردیزله سنګرونونه رارسیدلی خبرونه:

درارسیدلی خبرونو له مخی مجاهدینو د ۱٤۱۰ هـ ق کال دربیع الثانی دمیاشتی په (۲۷) نیټه دخوست په هوایی ډګر کی دملحد رژیم یوه دځلورو انجنو الوتکه وویشتله خبر زیاتوی چی په الوتکه کی (۱۵) تنه عسکر هم وژل شوی دی.

مجاهدینو د ۱٤۱۰ هـ ق کال د ربیع الثانی د میاشتی په (۲۸) نیټه دشپی په اووه نیمو بجو دملحد رژیم یوه دځلورو انجنو الوتکه چی دکابل څخه دخوست خواته تله دخوست سره نژدی وویشتل شوه خبر زیاتوی چی هغه الوتکه دمتی چینی په سیمه کی وغورځیده.

دجهاد
دیوسنګر
دوه
اتل
مجاهدین

د ۱٤۱۰ هـ ق کال دجمادی الاول دمیاشتی په لومړی نیټه د ملحد رژیم یو زغره وال ټانك او یوه عراده داوبو ټانکر چی غوښتل یی دتوری غاړی پوستی اکمال کړی د مجاهدینو د ښخ شوی ماین پذویعه والوزول شول او دملحد رژیم څلور تنه عسکر دیوتن صاحب منصب په شمول ووژل شو او یو تن صاحب منصب دعبدالغنی په نامه سخت ټپی شو .

په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی د خوست زړورو مجاهدینو دجمادی الاول دمیاشتی په دریمه نیټه په توره غاړه کی دملحدو دښمنانو یو تعرض شنډ کړ چی په نتیجه کی یی دملحدو ملیشه و څخه (٦) تنه هلاك شوی او (٥) تنه سخت ټپیان شوی دی .

دجمادی الاول دمیاشتی په (٤) شپه ددښمن یوه د څلورو انجنو الوتکه دخوست په هوایی ډگر کی دمجاهدینو د ابوس توپ دمسلسلو ډزو په نتیجه کی تخریب اوله مینځه یوړل شوه .

د ۱٤۱۰ هـ ق کال د جمادی الاول په اتمه نیټه ددښمن یوه عراده داوبو ټانکر چی د خوست څخه دتوری غاړی په استقامت روان ؤ دهغه ماین پواسطه تخریب شو چی د مجاهدینو له خوا ورته ایښودل شوی و خبر زیاتوی چی ملحدینو غوښتل چی تخریب شوی داوبو ټانکر بیرته انتقال کړی چی پدی وخت کی دمجاهدینو لخوا تر اور لاندی ونیول شول په نتیجه کی د ملحد رژیم دوه تنه صاحب منصبان او پنځه تنه عسکر هلاك شو او دهغوی د سپرلیو موټر هم تخریب شو .

دجمادی الاول دمیاشتی په (۹) نیټه ددښمن یو زغره وال ټانك دمجاهدینو له خوا دایښودل شوی ماین په زریعه خوست کی توری غاړی ته نژدی له مینځه یوړل شو خبر زیاتوی چی دڅو ورځو را پدی خوا دتوری غاړی داکمالاتو لاره دمجاهدینو له خوا

هغه مجاهدین چی په ملحدینو باندی دکامیابی له کبله دخندا او خوښی حالت کی لیدل کیږی .

بنده شوی ده .

مجاهدینو دجمادی الثانی په ۱۲ نیټه دخوست لویدیزه خواکی دمزدور رژیم په یو زیات شمیر پوستو حمله وکړه چی په نتیجه کی یی درژیم شپږتنه افسران او پینځه ځلویښت تنه عسکر وژل شوی او شپیته تنه اجیران یې ژوندی نیول شوی . همدارنګه درژیم دوه ټانکه دوه لوی موټرونه او نوری زیاتی درنی وسلی له منځه وړل شوی او یوه زیاته اندازه یې په غنیمت نیول شوی .

ګردیز

دارسیدلی خبرونو له مخی دګردیز زړورو مجاهدینو د ۱٤۱۰ هـ ق کال دجمادی الاول دمیاشتی په دویمه نیټه دځمکی نه ځمکی ته (۱۵۰) توغندی دګردیز په نظامی قشلو وویشتل چی په نتیجه کی دملحد رژیم دمهماتو یو لوی ډیپو اور واخیست چی دا اور تر سهاره پوری دوام درلود .

مجاهدینو د (۱٤۱۰) ه ق کال د جمادی الاول د میاشتی په (۱٦) نیټه د ملحد رژیم دوه الوتکی چی د خوست میدان ته راکوزیدلی او یو موټر چی میدان کی ولاړو د اوبوس او نورو توپونو په اورونو له منځه یوړل .

په همدی شپه د ملحد رژیم د منګس له کمپ څخه دری تنو ملیشه و د مجاهدینو سره د یوځای کیدلو په نیت د مجاهدینو د مرکزونو لوری ته را وخوځیدل خو یو تن یی د ملحدینو د ماین پواسطه له منځه لاړاودوه تنه نوریی پخپلوتیرو اعمالو باندی د ندامت د څرګند ولو سره د مجاهدینو له صفونو سره یو ځای شول .

دهیوادنورخبرونه :

هرات

گزارشات رسیده از هرات حاکی از آنست که در حمله تاریخی (۲۵) ربیع الثانی سال جاری قمری مجاهدین تحت قومانده . حق دوست » بر پوسته های خاد در اطراف شهر هرات حمله نمودند که در نتیجه آن (۱۱) تن ملیشه کشته و (۳۰) نفر مجروح گردید در این حادثه یك ټانك و دو موتر نظامی نیز به آتش کشیده شد .

کابل

مجاهدینو په تیره اونی کی دکابل درژیم دځو امنیتی پوستو په نیولو سره دهیواد په مختلفو نقطو کی دښمن ته ډیر ځانی او مالی زیانونه اړولی دی .
دافغانستان داسلامی اژانس د رپوټ له مخی مجاهدینو دحزب اسلامی دکابل دحوزی دقوماندان عبدالحق ترمشری لاندی دروان کال دربیع الثانی په ۲۳ نیټه دکابل ښار جنوب ختیځ خواته دچار آسیاب دولسوالی دموسهی په سیمه کی دملحد رژیم په پوستو باندی د حملی کولو سره وکولای شول چی دالو خیلو دسیمی سترا تیژیکی پوسته له ډیرو مهماتو سره پخپل تصرف کی راوړی همدارنګه په هغو عملیاتو کی چی مجاهدینو دروان کال دربیع الثانی دمیاشتی په ۲۵ نیټه دکابل ښار جنوب ختیځ خواته دچکری په سیمه کی دملحد رژیم په امنیتی پوستو باندی اجرأ کړل درژیم د(۲۳) تنه اجیرانو دوژل کیدو څخه برسیره دوه ټانکونه او دوه عسکری موټر هم له مینځه یوړل شول .

ننګرهار

دکابل رژیم دروان قمری کال د جمادی الاول دمیاشتی په (۹) نیټه دجلال آباد په جنوب کی د بی . ایم۱۲ او بی .ایم٤۱ دډزوله امله یو پیکپ موټر چی له سورلیو ډك او دتورخم خواته روان ؤ له مینځه یوړ چی په نتیجه کی دری کوچنیان دمیندو

سره سخت ټپیان شول .

کندهار

خبرنگار آژانس اسلامی افغانستان از کویته به نقل از اطلاعات رسیده از کندهار خبرمی دهد که عبدالرشید جمال قوماندان مشهور ملیشه ووکیل در ولسی جرگه پارلمان رژیم کابل بتاریخ ۲٤ ماه ربیع الثانی دریك حمله مجاهدین در شهر کندهار کشته شده که رادیو کابل نیز مرگ وی را تصدیق کرده است .

نمایندگی میدیا از قول قوماندان اکبر آغا در کندهار از کویټه اطلاع میدهد مجاهدین منطقه باسیاب ولسوالی ډنډ پوسته های امنیتی رژیم را در شهر کندهار بتاریخ (۱۱) جمادی الاول هدف حمله قرار داده که طی آن (٤) نفراز افراد دشمن هلاك شدند

له کویټې څخه دمجاهدینو یوی منبع خبر را کړی دی په هغه برید کی چی د ۱٤۱۰ هـ ق کال د ربیع الثانی د میاشتی په ۲۷ نیټه د ملا عبدالعزیز تر قوماندی لاندی دکندهار دهوایی ډګر په یوه پوسته وشوه نوموړی پوسته تخریب او دهغی دډیپو مهمات اور واخیست درپوټ سره سم پدی پیښه کی یو ټانك هم له مینځه تللی او مجاهدینو ته څه تاوان ندی رسیدلی .

داسلامی افغانستان د آژانس خبریال له کویټې څخه یو بل خبر کی لیکی چی مجاهدینو دملا ګل ناصری تر قوماندی لاندی دروان قمری کال دجمادی الاول په اتمه نیټه د کندهار په هوایی ډګر باندی دثقیلو وسلو پواسطه عملیات وکړل چی دهغو عملیاتو له امله درژیم یوه الوتکه چی دهوایی ډګر په انګړ کی

مجاهدین دجهاد په سنګر کی

دترمیم لپاره ولاړه وه تخریب او په پوره ډول له مینځه لاړه دمنبع په قول پدغه پیښه کی دهوایی ډګر اته تنه عمله هم له مینځه تللی دی .

هلمند

دهلمند څخه درارسیدلی خبرونو له مخی مجاهدینو د ۱٤۱۰ هـ ق کال دربیع الثانی دمیاشتی په ۲۷ نیټه دمولوی عبدالحلیم تر قوماندی لاندی په یو ګډ برید کی دناوی دولسوالی پر کمربند پوستو باندی پدی بریالی شو چی یوه پوسته له مینځه یو سی او دوه تنه دملحد رژیم عسکر هم ووژل شی پدی خبر کی دمجاهدینو له تلفاتو څخه څه ندی ویل شوی .

بلخ

دافغانستان اسلامی اژانس دمجاهدینو د یو رپوټ له مخی لیکی چی ددولت آباد د تاله بچګان په سیمه سنګرخانی او نورو سیمو کی په اجیرو قواو باندی دمجاهدینو دیو پراخ برید له امله دمزدور رژیم (۲۰) تنه ملحد ملیشه وژل شوی دی او هم د هغوی (٤۳) تنه دربیع الثانی په (۲٤) نیټه نیول شوی دی .

همدارنګه دنوموړی ولسوالی په خیر آباد کی د رژیم یوه بله پوسته دمجاهدینو دیوبل برید له امله فتح شویدی خبر زیاتوی چی مجاهدینو د دغی پوستی څخه یو ټانك یو هاوان (٤۰) میله کلاشینکوف او (٤۰) میله ګرینوف په غنیمت تر لاسه کړی .

دافغانستان داسلامی آژانس خبریال دمولوی محمد عالم د راډیوی پیغام له مخی خبر را کوی چی دهغه ترقیادت لاندی مجاهدینو د جمادی الاول په اتمه نیټه دکابل رژیم یو باروړونکی الوتکه چی د مزار شریف هوایی ډګر ته روانه وه وویشته او هغه دبلخ ولایت دمارمل علاقداری کی وغورځیده پدی پیښه کی دالوتکی پیلوټ سره د عملی وژل شوی دی په خبر کی ویل شوی چی د رژیم دغه الوتکه دمزارشریف د اکمالاتو لپاره راغلی وه .

مجاهدین ولایت بلخ بتاریخ ٦ جمادی الاول سال ۱٤۱۰ هـ ق دریك عملیات موفقانه پوسته های قریه جات النګ و دورمن مربوط ولسوالی دولت آباد را فتح کردند و همچنان بیست نفر را اسیر و (۲۹) میل کلاشنیکوف یك میل ماشیندار پیکا یك میل هاوان وسط ویك راکت انداز آر - پی - جی هفت را به غنیمت ګرفتند و (۱٦) نفر دشمن را به هلاکت رساندند خبر می افزاید بتاریخ (۸) جمادی الاول سال ۱٤۱۰ هـ ق مجاهدین قهرمان بالای پوسته دیاس حمله برده در نتیجه پوسته مذکور را به تصرف آوردند و (٦) نفر را اسیر و (٦) میل کلاشینکوف ویك میل ماشیندار پیکا را به غنیمت ګرفتند عملیات فوق تحت قوماندە استاد عطا محمد صورت ګرفته است و نیز عملیات وسیع فعلاً هم در نقاط مختلف ولایت بلخ جریان دارد .

بتاریخ ۹ ماه جمادی الاول سال جاری مجاهدین ولایت بلخ یك پروند طیاره بوینګ روسی رادر منطقه شولګره به ساعت سه بجه روز سقوط دادند و تمام سرنشینان آن از بین رفت .

فاریاب

دقوماندان سید اکبر د راډیویی مخابری له مخی مجاهدینو دکابل رژیم دفاریاب ولایت دشیرین تګاب په جمعه بازار نومی پوستو باندی دروان قمری کال دجمادی الاول په لسمه نیټه دمیزایلو حمله وکړه چی درژیم (۱٤) تنه ملیشه پکښی وژل شوی پنځه کسان ژوبل او پوستی ویجاړی شویدی قوماندان سید اکبر زیاتوی چی د مجاهدینو دمسلسلو بریدونو په اثر دشیرین تګاب د ولسوالی څو کلی درژیم دملیشه‌ود کنترول څخه ددوهم ځل لپاره آزادی شوی پدغو

افتتاح سمینار باز سازی افغانستان

پروفیسور برهان الدین (ربانی) وزیر اعمار مجدد حکومت موقت اسلامی افغانستان صبح روز (۱۲) جمادی الاول سمیناری رادر رابطه با باز سازی افغانستان در اسلام آباد افتتاح و پالیسی حکومت مجاهدین رادر زمینه جلب کمك ها در قسمت باز سازی افغانستان به شاملین سمینار توضیح نمودند نمایندگی میدیا از اسلام آباد اطلاع داد که این سمینار توسط مؤسسه تحقیقات سترا تیژیك (ای ، اس اس) دایر گردید وبعد از این درهر ماه یك بار چنین سمیناری دایر خواهد گردید منبع اضافه کرد در این سمینار که در مرکز تحقیقات سترا تیژیك

حملو کی دمجاهدینو د تلفاتو په هکله کومه خبرتیا نه ده تر لاسه شوی

دایر گردیده بود بر علاوه انجینر عبیدی معاون وزارت زراعت دوکتور فیض الله کاکړ رئیس طب وقایوی وزارت صحت عامه نمایندگان کشور های کمك دهنده به بازسازی افغانستان نمایندگان موسسات بین المللی و پاکستان وعده ئي از مسولین حکومت موقت اسلامی افغانستان اشتراك ورزیده بودند .

دجهاد سنگرکی دمجاهدینو دڅو ونډ یو منظر .



د حق لارې قربانیان



د شهید خان افضل لنډ ژوند لیک

د افغانستان د اسلامی انقلاب د ننګیالیو مجاهدینو له جملې څخه یوهم شهید خان افضل د شریف الله زوی ؤ چی په ۱۳۳۳ هــ ش کال کې د پکتیا ولایت د خوست د صبر یو په کوټکیو کی زیږیدلی ؤ.

نوموړی خپله لومړنی زده کړه د صبر یو په منځني ښوونځي کې سرته ورسوله،په افغانستان کې د ملحدینو له کود تا سره سم یې په وسله وال جهاد پیل وکړ. په ۱۳۵۹ هــ ش کال له خپلی کورنی سره اسلامی هیواد پاکستان ته مهاجر شو.

د نومیالي قوماندان الحاج اکبر الدین تر قیادت او قوماندې لاندې یې د یعقوبیو په علاقدارۍ کی وسله وال جهاد ته ادامه ورکړه.

د وسله وال جهاد په جریان کې یې په ډیرو عملیاتو کی ګډون کړی ؤ او هر ځل یې دښمن ته

د سر او مال درانه تلفات ورواړول ·
بالاخره د اسلام دحقې لارې دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۲/۱۰/۷ نیټه د ځاځي میدان په ولسوالۍ کې له دښمن سره په یوې مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ ·
(انالله وانا الیه راجعون)

د شهید میرزا علی خان لنډ ژوند لیک

د افغانستان د اسلامی انقلاب د جهاد د تاوده سنګر د زړورو مجاهدینو په ډله کې چې جهادی و یاړلی کارنامی به یې زمونږ د جهاد په تاریخ کې د تل لپاره ثبت وی ، یوهم میرزا علی خان د بختر ګل زوی ؤ · چې په ۱۳۴۳ هـ ش کال کې د پکتیا د خوست د صبریو د تودی کلی په یوه غریبه ،

متقی او دینداره کورنی کی زیږیدلی ؤ ·
نوموړی په افغانستان کی د کمونستانو د کودتا څخه وروسته په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی له خپلی کورنی سره د پاکستان اسلامی خاوری ته هجرت کړی ؤ ·
په ۱۳۶۰ هـ ش کال کی هغه وخت چی او وه لس کلن زلمی ؤ د جهاد سره مینی او اسلامی جذبی هغه د وسله وال جهاد سنګر ته وروست · د جهاد په جریان کی یی په ډیرو عملیاتو کی ګډون وکړ او هر ځل یی دښمن ته د سر او مال درانه تلفات وا ړول ، چی دلته د شهرنو ، ځاځی میدان ، شمالی ، بړی ، اړګون زرمت ګردیز او د پکتیا په نورو سیمو کی د ده د جهادی فعالیتو نو په یادونه اکتفا کوو ·
دغه پیاوړی مجاهد په دی وروستیو وختونو کی د ژوری په زاړه غونډ کی د انضباطی وظیفه اجراء کوله ·
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۸/۳/۵ نیټه د خدای جل جلاله د رضا په لار کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید ·
(انالله وانا الیه راجعون)

د شهید عبدالحکیم لنډ پیژند لیک

د هغو میړنیو مجاهدینو په ډله کی چی ویاړلی جهادي کارنامی یی زمونږ د اسلامی انقلاب د تاریخ ځلانده باب دی یو هم عبدالحکم د تازه ګل زوي د

ننگرهار د ولایت د کړی د ولسوالی داگام تنگی دکلی اوسیدونکی په قوم سلمان خیل ؤ .



نوموړي په (۱۳۵۸ هـ ش) کال کی د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړ ، په ډیرو جهادی عملیاتو کی یی برخه واخیستله او هر ځل یی په ډیره میړانه د دښمن مقابله وکړه او د دین او وطن دښمنانو ته یی د سراو مال درانه تلفات وروااړول . په ۹ /۱۲ /۱۳٦۷ نیټه د سلمان فارسی (رض) په غنډکی د مجاهد په توگه شامل شو .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او علای کلمة الله په خاطر یی د ملحدینو په مقابل کی وسله وال جهاد کاوه د (۱۳٦۸ هـ ش) کال د اسد په میاشت کی په جلال آباد کد ددښمن دتوپ د گولی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

دشهید زخیم لنډه پیژند گلوي

د افغانستان د مسلمان ملت د وسله وال جهاد د تاوده سنگر د مجاهدینو په ډله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا په خاطریي د ملحدو کمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړي یو هم زخیم کوچی د حاجی تره کی زوي ؤ ، چی په (۱۳٤۰ هـ ش) کال د پکتیا د ولایت د خوست د

لويي ولسوالی دځدرانو په ښکلي دره کی زیږیدلی ؤ .

نوموړي په افغانستان کی ملخدینو له کودتا سره سم په وسله وال جهاد لاس پوري کړی واو د الحاج

مولانا ـ جلال الدين (حقانی) ترقیادت لاندي يي د دين او وطن دښمنانو په مقابل کي وسله وال جهاد کاوه ، په ډيرو جهادي عملياتو کي يي برخه اخيستي وه او په هر ځل يي دښمنانو ته ځاني او مالي تلفات وراړولی وو .

دلته يی د نموني په توګه د ارګون دتر مري په جګړه او همدا رنګه د شاهی کوټ په جهادي عملياتو کی دفعالی برخي اخيستلو په يادونه اکتفأکوو .

بالاخره دغه زړور او نوميالی مجاهد په (۱۳۶۰ هـ ش) کال کی د ژوري په سيمه کي له دښمن سره د يوی مخامخ جګړی په ترځ کي د توپ دګولی په ذريعه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد عبدالباقی لنډ ژوند ليك

د اسلام د حقي لاري د مجاهدينو په ډله کی چي خاص د خدای جل جلاله د رضا او علای کلمة الله په خاطريي وسله وال جهاد پيل کړي ، يو هم عبدالباقی د غلام حيدر زوي د پکتيکا د ولايت د اورګون د لويي ولسوالی د سيل احمد د کلي اوسيدونکی په قوم مندو خيل ؤ .

نوموړی په (۱۳۴۸ هـ ش) کال کي دي فاني نړي ته سترګي غړولي وي . او د ځوانی په لومړيو

وختونو کی خپلی ايمانی جذبی هغه د وسله وال جهاد سنګر ته بيولی ؤ . د مولوي صاحب محمد حسن تر قوماندی لاندي يي د ملحدينو پرضد وسله وال جهاد کاوه ، د جهاد په موده کي يي په ډيرو جهادي عملياتو کي برخه اخيستي او هر ځل يي د دين او وطن دښمنانو ته درانه مالي او ځانی تلفات وراړولي دي . بالاخره دغه نوميالی اوزړه ور مجاهد د (۱۳۶۸ هـ ش) کال د سنبلي د مياشتي په دويمه نيټه د سيد کی په پوسته کي له دښمن سره د يوي مخا مخ جګړی په ترځ کي د راکټ په مرمی د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد عبدالغفور خان لنډه پيژند نه

د اسلام د لاري نوميالی مجاهد عبدالغفور خان د محمد عمر خان زوي د پکتيا د ولايت د خوست و لويي ولسوالی د درگی د لغوړي د کلي اوسيدونکی ؤ .

نوموړي په (١٣٤٥ هـ ش) کال کی دی فاني نړي ته سترگي غړولي وی ، په (١٣٥٩ هـ ش)

کالی يی د الحاج مولانا جلال الدين (حقانی) تر قيادت لاندي په وسله وال جهاد پيل کړي ؤ . په ډيرو جهادي عملياتو کی يی په گډون سره دښمن ته د سراو مال درانه تلفات وراړولی ، چی دلته يی د نمونی په توگه د خوست ، لژي اوژوري د عملياتو په يادونه اکتفاء کوؤ .

بالاخره دغه نوميالی مجاهد د (١٣٦٥ هـ ش) کال د حوت د مياشتي په لومړيو ورځوکي د ژوري په جنگ کي د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد خيال بدين لنډ ژوند ليك

د حقی لاري د مجاهدينو په ډله کی چی د خدای د رضا لپاره يی په ډيره ميړانه د جهاد په سنگر کی د دښمن پرضد جهاد کاوه ، يو هم خيال بدين د سرفراز زوي ؤ چی د پکتيا ولايت د جانی خيلو د ولسوالی د خليل د کلی اوسيدونکی ، په قوم منگل ؤ



نوموړی په (١٣٦٣ هـ ش) کال د ملحدينو پرضد وسله وال جهاد پيل کړي ؤ په ١٤ /١٠/ ١٣٦٧ نيټه يی د سلمان فارسی (رض) په غنډ کی د مجاهد

او دریئور په توګه شامل شو ، شپږ میاشتی یې په

ډیره میړانه او صداقت خپله وظیفه سرته ورسوله

بالاخره د (۱۳۶۸ هـ ش) کال د جوزا په

میاشت کی په جلال آباد کی په شهادت ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید شیرولك لنډ ژوند لیك

د هغو نومیالیو مجاهدینو په ډله کی چی خاص د

خدای جل جلاله د رضا او د اعلای کلمة الله

لپاره یی د کفر او الحاد په مقابل کی جهاد پیل

کړی ؤ یو شیرولك د میرآباد خان زوی و چی په

۱۳۴۳ هـ ش کال د پکیتا ولایت د خوست د

علیشیرو د نریزیو ځدرانو په کلی کی زیږیدلی ؤ .



په ۱۳۵۹ـ هـ ش کال کی اسلامی هیواد پاکستان

ته مهاجر شو او په ۱۳۶۰ هـ ش کال یی په وسله

وال جهاد پیل وکړ .

په ډیرو عملیاتو کی یی برخه واخیستله او هر ځل

یی ډیره میړانه وښودله . بالاخره د اسلام د حقی

لاری دغه ننګیالی مجاهد په ۲۰ / ۱۰ / ۱۳۶٦ نیټهٔ د

باك پر علاقداری باندی په عملیاتو کی د شهادت

لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید میرزا خان لنډ ژوند لیك

د حق د لاری د مجاهدینو په ډله کی چی خاص د

خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله لپاره

یی د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد

پیل کړی یو هم میرزا خان د ظریف خان زوی ؤ

چی په ۱۳۳۲هـ ش کال کی د ځدرانو د مرادك په

کلی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی لومړنی زده کړه په خپل کلی کی له ملاځخه کړی وه . په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی یی له خپلی کورنی سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ . او په همدغه وخت کی د جهاد سره مینی او اسلامی جذبی هغه د جهاد تاوده سنگر ته وروست او په وسله وال جهاد یی پیل وکړ . دارگون ډبگی او لیژه سیموکی یی د دښمن په مقابل کی جهاد وکړ ، په بیلو بیلو عملیاتو کی یی د دین او وطن دښمنانو ته د سر أو مال درانه تلفات واړول .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه ننگیالی مجاهد په ۱۶ ۷ /۱۳٦۵ نیټه د ژوری مرکز ته نژدی له ملحد دښمن سره په یوه مخامخ جگړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید محمد اسلم لنډه پیژندنه

دهغو مؤمنو مجاهدینو په ډله کي چي خاص د خدای جل جلاله د رضا او علای کلمة الله په خاطریی د ملحدینو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی ؤ یو هم محمد اسلم د محمد ایوب زوي د کندز د ولایت د ارچی دولسوالی دگل تپی کلی اوسیدونکی ، په قوم تنی ؤ .

نوموړي په (۱۳٦۲ هـ ش) کال د دین او وطن د دښمنانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړ په ډیرو جهادي عملیاتو کی یی برخه واخیستله او هر

ځل یی دښمن ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وررواړول . په ٤ /٤ /١٣٦٧ نیټه د سلمان فارسی (رض) په غنډ کی د یو مجاهد په توگه شامل شو ، څوارلس میاشتی یی د غنډ د یوتکړه مجاهد په تو د دین او وطن دښمنانو پرضد وسله وال جهاد وکړ بالاخره د (۱۳٦۸ هـ ش) کال کی سنبلي په میاشت کي دلیژي په سیمه کی د دښمن د توپ د گولی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عبدالسلام لنډه پیژند نه

د اسلام د حقي لاري مجاهدینو په ډله کی یو هم عبدالسلام د راز محمد زوي په قوم خو ږیانی د

زرمت د ولسوالی د خدرخیلو د کلی اوسیدونکی ؤ .
نوموړي په (۱۳۶۱ هـ ش) کال د ملحدینو پرضد
وسله وال جهاد پیل کړی ؤ د دښمن پرضد یي په
ډیرو جهادي عملیاتو کي برخه واخیستله او هر ځل
یی په ډیره میړانه مقابله وکړه (۱٤) میاشتی یی
د سلمان فارسی (رض) په غنډ کي له نورو
مجاهدینو سره یو ځاي د ملحدینو په مقابل کي



وسله وال جهاد وکړ ، بالاخره دغه زړه ور او
ننګیالی مجاهد د (۱۳۶۸ هـ ش) کال د سنبلي
په میاشت کي دلژي په سیمه کي ددښمن دتوپ د
ګولی په ذریعه دشهادت لوړ مقام ته ورسیده .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید ګل محمد لنډه پیژندنه

د افغانستان د اسلامی انقلاب د جهاد د تاوده
سنګر د نو میالیو مجاهدینو له جملی څخه یو هم
ګل محمد دا شیر زوی ؤ چی په ۱۳۳۰ هـ ش کال
د منګلو د موسی خیلو ولسوالی د زوړکوټ کلی
په یوی متدینه کورنی کی زیږیدلی ؤ .

د ثور له خونړی کمونستی کودتا څخه د مخه یی
د ډیر یوری دنده در لوده کله چی په افغانستان
کی د روسانو په حمایت او دستور کمونستی کودتا
وشوه او د افغانستان مسلمانو خلکو د کفر او
الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد شروع کړ ، نو

موړی هم د ډیر یوری وظیفه پریښود له او د کفر
او الحاد په مقابل کی یی وسله وال جهاد پیل کړ .
په پکتیا کی یی د جهاد په ډیرو سنګرونو کی د

دښمن په مقابل کی په میړانه جهاد وکړ او د دین او وطن پر دښمنانو یی مرگونی گوزارونه وکړل . بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه مجاهد په ۱۰ /۴/ ۱۳٦۸ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید اکبر خیل لنډه پیژندنه

د اسلام د حقی لاری د مجاهدینو په ډله کی چی جهادی کارنامی یی زمونږ د اسلامی انقلاب په تاریخ کی په زرینو کرښو ثبت دی یو هم اکبر خیل ، د اقبال شاه زوی ؤ چی د پکتیا ولایت د پټان د ولسوالی د میر خیلو په کلی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی په ۱۳٦۰ هـ ش کال کی د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی ؤ . د دین او وطن دښمنانو په مقابل کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی وه او هر ځل یی د ډیری میړانی په ښودلو سره دښمن ته د سر او مال درانه تلفات واړولی وو .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱ /۱۲/ ۱۳٦۷ نیټهٔ په بړی کی د دښمن د توپ په ذریعه د شهادت لوړ مقام تر لاسه کړ .

انالله وانا الیه راجعون

شهید داور خان لنډه پیژندنه

د اسلام د حقی لاري مجاهدینو په ډله کي چی خاص دخدای جل جلا له د رضا په لاره کی یي د کفر او الحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړی دی یو هم داور خان د خواجه نور زوي د پکتیا د ولایت د





میدان د ولسوالی د گریژن د کلی اوسیدونکی په قوم بلخیل ؤ .

نو موړي په (۱۳۶۲ هـ ش) کال کی د کفر او الحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړ ، په ډیرو جهادي عملیاتو کی یی دښمن ته د سر او مال درانه تلفات ور واړول . شپږ میاشتی یی د سلمان فارسی دغنډ د مجاهد په توگه په ډیره میړا نه او زړورتیا سره د دښمن مقابله وکړه . بالاخره دغه میړنی اوننگیالی مجاهد په ۱۳/ ۳/ ۱۳۶۸ نیټه د جانداد په سیمه کی د دښمن د مین په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

دشهید حلیم شاه لنډه پیژند نه

د اسلام د حقي لاري د مجاهدینو په ډله کي یو هم حلیم شاه د حکیم شاه زوي ؤ چی په قوم ځدران او د پکتیا د ولایت د خوست دلویی ولسوالی د دومنده د کلی اوسیدونکی ؤ .

نوموړي په (۱۳٤۰ هـ ش) کال کي دي فانی نړي ته سترگي غړولي وی . په افغانستان کی د ملحدینو قدرت ته د رسیدلو سره سم یی په وسله وال جهاد پیل کړي ؤ ، په ډیرو زیاتو جهادي عملیاتو کي یي په میړانه سره د دښمن مقابله کړي او د سر او مال



درانه تلفات یی وراړولي دی . چي دلته یي د ژوري سنگي ، لیژي او بړي کي د عملیاتو په یادونه اکتفاء کوو .

نوموړي دشهید احمد شاه د غنډ مجاهد ؤ او د حاجی اکبر شاه تر قوماندي لاندي یي وسله وال جهاد کاوه ، چي په ۱۵/ ۷/ ۱۳۶۸ نیټه په سپنکي کي ددښمن د ماین په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید بهرام خان لنډه پیژندنه

د هغو مؤمنو مجاهدینو په ډله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله لپاره یی د کفر او الحاد پر ضد جهاد پیل کړی ، یو هم

بهرام خان د عمر خان زوی ؤ ، چی په ۱۳۴۳ هـ ش کال کی د مزار شریف د ولایت دا خچی په کلی کی زیږیدلی ، په قوم تور خیل ځدران ؤ .
نو موړی په ۱۳٦۱ هـ ش کال کی له خپلی کورنی سره پاکستان ته مهاجر شو او اسلامی جذبی او د جهاد مینی هغه د وسله وال جهاد ډگر ته وروست . د وسله وال جهاد په موده کی یی دارگون ، درگی ، بړی په منطقو کی د دین او



وطن پر دښمنانو مرگونی گوزارونه کړی او د سر او مال درانه تلفات یی ور اړولی دی .
بالاخره دغه میړنی او ننگیالی مجاهد د خپل عمر په ۲۵ کلنی کی په (۱۳٦۸ هـ ش کال) د درگی په ولسوالی کی د شهادت لوړ مقام وگاته .
انالله وانا الیه راجعون

د شهید مستو خان لنډه پیژندنه

د هغو ننگیالیو او توریالیو مجاهدینو له جملی څخه چی د جهاد و یاړلی کارنامی به ئی د تل لپاره زمونږ د اسلامی انقلاب د تاریخ ځلانده باب وی یوهم مستو خان نومیده ، چی د وکیل خان زوی او په ۱۳٤۸ هـ ش کال د منگلو د موسی خیلو د ولسوالی د زوړ کوټ کلی کی زیږیدلی و .
گله چی په ۱۳۵۷ هـ ش کال د روسانو په حمایت



د یوی خونړی کودتا په نتیجه کی ملحدو کمونستانو قدرت تر لاسه کړ ، نو موړی له خپلی کورنی سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ .
او له همدغه نیتی نه وروسته په مسلحانه جهاد پیل وکړ
بالاخره دغه پیاوړی مجاهد له دښمن سره دیوی مخامخ جگړی په نتیجه کی په ۱۵/ ۵/ ۱۳٦۸ نیته د شهادت لوړ مقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

د شهید عبدالحی لنډ پیژند لیك

د زړورو او ننگیالیو مجاهدینو په ډله کی یو هم عبدالحی د عبدالله زوي د بغلان د ولایت د نهرین د ولسوالی د قرلح د کلی اوسیدونکی ؤ .

نو موړي په (۱۳٦٤ هـ ش) کال کی د کفر او الحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړی ؤ له دښمن سره په مخامخ جگړه کی یی په ډیر میړانه سره مقاومت کا وه ، په ۱٤/ ٤/ ۱۳٦۷ نیټه د سلمان فارسی (رض) د غنډ د مجاهدینو په ډله کی شامل شو . (۱٤) میاشتی یی د دغه غنډ له میړنیو مجاهدینو سره یوځای د ملحد دښمن په مقابل کی جهاد وکړ . بالاخره د (۱۳٦۸ هـ ش) کال د سنبلی په میاشت کی په درگی کي د دښمن د توپ د گولی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید ابـراهیم لنډ ژوند لیك

د اسلام د لاري د میړنیو مجاهدینو په ډله کي یو هم ابراهیم د الله میر زوي ؤ چی د کندز د ولایت د ارچی د ولسوالی اوسیدونکی او په قوم ځدران ؤ . نوموړي په (۱۳٦۳ هـ ش) کال کی د ملحدینو پرضد وسله وال جهاد پیل کړی ؤ . په ډیرو جهادي عملیاتو کی یی په ډیره میړانه د دښمن مقابله کړی وه او هر ځل یي د دین او وطن دښمنانو ته د سر او مال درانه تلفات وراړولي وو .

دغه نومیالی مجاهد په ۱۰/ ٤/ ۱۳٦۷ هـ ش کال د سلمان(رض) د غنډ د مجاهدینو په ډله کی

شامل شو ، شپږ میاشتی یي ددغه غنډ له مجاهدینو سره یو ځای د ملحدینو په مقابل کی جهاد وکړ . بالاخره په ۱۱ /۹ /۱۳۶۷ نیټه په بړي کي د دښمن د هاوان د گولی په ذریعه یي د شهادت لوړ مقام په برخه شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید لنډیزی لنډه پیژندنه

د اسلام د حقی لاری د مجاهدینو په ډله کی یو هم لنډیزی د عجب زوی په قوم منگل د پکتیا د ولایت د زوړ کوټ د ولسوالی د خر کی د کلی او سیدونکی ؤ . نوموړی په ۱۳۶٤ هـ ش کال د کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی و . په ډیرو جهادی فعالیتونو کی یی برخه اخیستی او د دین او وطن دښمنانو ته یی د سر او مال درانه

تلفات و راړولی ، بالاخره دغه زړور مجاهد په ۱۱ /۹ /۱۳۶۷ نیټه په بړی کی د دښمن د هاوان په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید گلاب لنډه پیژند نه

د هغو ننگیالیو مجاهدینو له جملی څخه چي ویاړلی جهادی کارنامي یي زمونږ د اسلامی انقلاب د جهاد

د تاریخ روښانه باب دي ، یو هم گلاب د خیال زوي د پکتیا د ولایت د اورگون د ولسوالی دواشکي د کلي اوسیدونکی ، په قوم ځدران ؤ .

نوموړي په (۱۳۶۳ هـ ش) کال کي دملحدینو په مقابل کي وسله وال جهاد پیل کړی ؤ په ډیرو جهادي عملیاتو کی یي په برخی اخیستلو سره دښمن ته د سر او مال درانه تلفات وراړولي دي . په

١٤ / ٧/ ١٣٦٧ نيټه د سلمان فارسی (رض) د غنډ د مجاهدينو په ډله کي شامل شو ، (١٤) مياشتي يی ددغه غنډ له نورو مجاهدينو سره يو ځای د دين او وطن د دښمنانو په مقابل کي وسله وال جهاد وکړ ، بالاخره د (١٣٦٨ هـ ش) کال د سنبلی په مياشت کی په درگی کی د دښمن د مين په ذريعه شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد اکرم گل رحمانی لنډ ژوند ليک

د اسلام د حقی لاری تکړه او زړور مجاهد اکرم گل رحمانی د سخی گل زوی او د پکتيا ولايت د جانی خيلو منگلو اوسيدونکی ؤ .

نوموړي خپله لومړنۍ زده کړه د خپل کلی له امام نه وکړه او بيا يی د کوهاټ د ضلعی ترناب دارالعلو م



کی زده کړه وکړه او وروسته يې په جامعه زرگري او د منبع العلوم مدرسه کې د ديني علومو زده کړه وکړه .

دغه تکړه مجاهد د پکتيا د ولايت په مختلفو سيموکې جهاد کړی ؤ او د ملحد و کمونستانو پرضد يې په زيات شمير عملياتو کې برخه اخيستې وه او د حضرت عمر فاروق د جبهې له ډيرو قهرمانو مجاهدينو څخه ؤ.د د دين محمد حق بين ترقوماندی لاندې جهاد کاوه .

بالاخره په ٩ / ٣/ ١٣٦٧ نيټه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد کمنکی لنډ ژوند ليک

د اسلام د حقی لاری د ميړنيو مجاهدينو له جملی څخه يوهم کمنکی د الف خان زوی ؤ چی په



١٣٤٣ هـ ش کال د پکتيا د ولايت د خوست د يعقوبيو په ستر کلی کی زيږيدلی ؤ .



نوموړی په ۱۳۵۹ هـ ش کال اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت کړی و او په ۱۳۶۱ هـ ش کال یی له خپلو مجاهدو ورونو سره اوږه په اوږه د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی ؤ .

د جهاد په جریان یی په ډیرو عملیاتو کی برخه واخستله او هر ځل یی بری او فتحه په برخه شوه او دښمن ته یی د سر او مال درانه تلفات ورواړول . بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی د دښمن له خوا دایښودل شوی پرسونل ضد ماین په ذریعه د شهادت مقام ته ورسید .
اناالله وانا الیه راجعون

د شهید مستقیم لنډه پیژندنه

د هغو مؤمنو مجاهدینو له جملي څخه چي وياړلي جهادي کارنامي يی زمونږ داسلامي انقلاب د تاريخ روښانه باب دی ، یو هم مستقیم د محمد یعقوب زوي د پکتیا د ولایت دخوست د لویي ولسوالی د مردیخیلو د کلی اوسیدونکی په قوم اسمعیل خیل ؤ .
نوموړي په (۱۳۶۳ هـ ش) کال کی د ملحدينو پرضد وسله وال جهاد پیل کړي ؤ ، په ډیرو جهادیي عملیاتو کی یی د دین او وطن دښمنانو ته د سرا او مال درانه تلفات وراړولي دی په ۱۳۶۷/۷/۱۴ نیټه د سلمان فارسی (رض) د غنډ د مجاهدینو په ډله کي شامل شو ، (۱۴) میاشتی یي د دغه غنډ له نورو زړورو مجاهدینو سره یو ځای د ملحدینو په مقابل کی وسله وال جهاد وکړ . بالاخره د (۱۳۶۸ هـ ش) کال د سنبلي په میاشت کی په درگی کی د دښمن دماشیندار د مرمی په ذریعه يي د شهادت لوړ مقام په برخه شو .
(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید محمد رفیق لنډه پیژندنه

د هغو نومیالیو مجاهدینو په جمله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله لپاره یی د کفر او الحاد پر ضد جهاد پیل کړی ، یو هم محمد رفیق د عالی محمد زوی ، د پکتیا ولایت د نکی د علاقداری او سیدونکی ؤ .
کله چی په افغانستان د کمونستانو کرغیړنه



کودتاو شوه . نوموړی له خپلی کورنی سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ او په میرانشاه کی یی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی په دینی مدرسه کی په زده کړه پیل وکړ . په ١٣٦٧ هـ ش کال کی له جهاد سره زیاتی مینی او اسلامی جذبی هغه د جهاد سنگر ته وروست او د کفر او الحاد پر ضدیی وسله وال جهاد پیل کړ ، بالاخره له یو کال وسله وال جهاد څخه وروسته د ١٣٦٨ هـ ش کال د روژی د مبارکی میاشتی په (١٥) نیټه دبړی په منطقه کی د ملحدو دښمنانو د طیاری د بمباری په نتیجه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید اجمل لنډه پیژندنه

د مؤمنو مجاهدینو په ډله کی یو هم اجمل د مرزا

شاه زوي په قوم منگل د پکتیا ولایت د جانی خیلو د ولسوالی د المر خیلو د کلی او سیدونکی ؤ . نوموړي په (١٣٦٦ هـ ش) کال کي د کفر او الحاد په مقابل کي وسله وال جهاد پیل کړ ، او په دغه موده کي يي په ډیرو جهادي عملیاتوکي برخه اخیستيي وه ، هر ځل يي په پوره میړانه ددښمن مقابله کړی ، او دښمن ته يي د سر او مال درانه تلفات وراړولي دي . بالاخره دغه زړه ور مجاهد د



(١٣٦٨ هـ ش) کال د سنبلي په میاشت کی د درگی په سیمه کی د دښمن د توپ دگولی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحیم

عن زید بن خالد رضی الله عنه
انّ رسول الله صلی الله علیه وسلم
قال من جهّز غازیاً فی سبیل الله ۔
فقد غزا ومن خلف غازیاً فی اهله
بخیرٍ فقد غزا.

«متفق علیه»

ناصر باغ روډ - بورډ - پېښور.

پوسټ بکس نمبر «۱۰۳۳» یونیورسټی پوسټ آفس پېښور.

ټیلفون نمبر: «۴۳۴۷۳».

د پښتي لومړی مخ:

د سکه دهغو دوو توغندیو لوګی چی د ملحدینو له خوا د مسلمانانو دوژلو په مقصد وشتل شوی.

د پښتي څلورم مخ: د مجاهدینو یو مرکز.